# "دي پټان"

## د غني خان کتاب

د غني خان "دي پټان" کۀ هر څو ډېرو خلقو لوستے کتاب دے خو خاطر چې دا وخت غالباً پـه جرمني کښې دے، ډېره په زړۀ پورې ترجمه کړې ده او ماته يې رالېږلې ده، دا وړوکے ولې جامع کتاب مونږ قسط وار په "پښتون" کښې د دې دپاره چاپ کوو چې عام لوستونکي هم ترې استفاده وکړي. ایډیټر

# زما خبرې

فلسفه، تاريخ او ناول چې سره راټول شي نـو د غني خان کتاب "دي پټان" ترې جوړ شي، دا کتاب د پښــتنو د تــاريخ او کلتــور يــوه لنــډه او خونــدوره هنداره ده چې د پښتون څېره پکښې داسې ښـکاري څنګه چې ده. د پښتنو د اصل نسل يا نوعي په حقله خو پکښې خبرې شوي دي خو څۀ کوټلے ځـواب يې په نظر نۀ راځي البته دا خبره د فکر وړ ښکاري چې پښتانۀ اروړه نسل دے او د هاغه ټولو تېرو نـووس ريښې لري کوم چې وخت پـه وخت د افغانسـتان پـه لاره د هند پلوو ته راغلي دي خو اوس ځنې افغاني او نړيوالو تاريخ پوهانو دا خبره څۀ نا څۀ يو ځائې ته رسولې ده چې پښتانۀ د [illegible] تېر [illegible] خپل [illegible]ي خو ځنې لويديز ختيز پوهان او خپله کورني تـاريخ پوهـه، تـوکم پوهـه او ژبپوهـه د دې د زبـات دپـاره بلورين او کوټلے دليل غواړي. هم دا لامل دے چې د پخـوا غونـدې اوس هـم پـه نړيوالـه کچـه دا هڅـې رواني دي چې د پښتنو د پښت بنسټ رابرڅېره کړي او دې سوال تـه ډاډمـن ځـواب ووايـي. اوس اوس د انګلستان په ځنې ورځپاڼو کښې دا خبر چاپ شوے دے چې د اسرائيلو دولت يو پـروژه رغـولې ده او هغې ته يې پېسې ورکړې دي، دا پروژه به د ژونځور يا ډي اېن اے په رڼا کښې د دې پوښتنې جاج اخلي چې پښتانۀ څوک دي؟ کېدے شي چې دا هر څۀ په شا باندې سياسي غرضونه لري خو دا هم ده چې د پښتنو د پښت په حقله څۀ زړۀ پورې خبرتياوې لا پـه لاسـو نـۀ دي راغلې، دا خـو مـا دلتـه دا خبره هسـې اوږده کړه ګني غني خان دې خبرې ته دومره لېوالـه نۀ دے چې پښتانۀ څوک دي؟ هغه وايي پښتانۀ کۀ هر څوک دي خو [illegible] پرې مئين يم.

[illegible]غني خان [illegible] کتاب د دې دپاره ليکلے ؤ چې پښتانۀ پـه پېرنګيـانو وروپېژنـي او د دوي دخويونـو، کـړو وړو، ورانـو ورکـو، ډول سُرنا، سندرو، اغونځو او ارمانونو نه يې خبر کړي.

د کتـاب ژبـه ډېـره لـوړه، خونـدوره خـو پـه ځنـي ځايونو کښې بې کچه ستغه او پېچلې ده، د کتـاب ځنې برخې خو داسې دي چې ليکـوال پکښـې خپلې

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

داخلي انګېرنې څرګندې کړې دي او داسې فلسفيانه رنګ يې اخستے دے چې پوهېدل پرې اسان نۀ دي او بيا دا پرې لا دپاسه چې خان ځائے په ځائے د خليل جبران ليک ډول هم خپل کړے دے، دا ژباړنه د کتاب د انټرنيټي ورژن نه شوې ده چې ځنې غونډلې پکښې نيمګړې او ناسمې برېښي.

دا ژباړنه تر وسه وسه پورې په نوي او څومره چې کېدے شوه په فونيمک ليکدود کښې شوې ده او کۀ چرته پکښې د تازي او يا کومې بلې ژبې توري کارول شوي وي نو ځکه چې يا خو د پښتو د سستم په چپه کښې نۀ دي او يا ماته د هغې د پښتو توري ياد نۀ دي. دا خبره ډېره مهمه ده چې د پوهې او علم خورولو سره سره پښتو ژبې ته هم وده ورکول ډېر ارزښت لري، کۀ مونږه داسې نۀ کوو نو نۀ خو يې



مونږ په خپله او نۀ يې نورو پښتنو ته زده کولے شو، البته د پښتو خنډېزو تورو معنې ليکل پکار دي، د دې کتاب په پائے کښې دغه خنډېز توري ليدے شئ.

کۀ رښتيا ووايم نو زما په ژوند کښې دا يو ورومبے کار دے چې سر ته مې ورسولو او د دې درښت لامل په هره معنٰي نورالله پاونده او محمد فايق يوسفزي دي، کۀ د دې دواړو هڅونه او پارونه راسره نۀ وې نو ګرانه وه چې دا کار مې سر ته رسولے وے، د خپلې لورکۍ کشماله خاطر هم مننه کوم چې د انګرېزۍ ځنې ستونزې يې راته هوارې کړې.

يو اځې دا نۀ چې ګڼې دا ورومبے کار دے چې سر ته مې ورسولو بلکې نژدې نژدې ورومبۍ ژباړنه مې هم ده، کۀ په ژباړنه کښې چرته ناسمې او تېروتنې وي هغه ټولې زما په غاړه دي او هغه د کتاب د متن نيمګړتيا مۀ ګڼئ. ژباړن: رشيد خاطر

### ورومبۍ برخه

## سريزه

ځنګه چې خبرې په يو مناسب ځائے پائے ته رسول ستونزمن کار دے هم دغسې په ليکلو کښې پېل کول اسان کار نۀ دے او ليکونکے نۀ پوهېږي چې له کومه ځايه يې راونيسي، د دې نه د سوخت خبره بله نۀ وي چې ستا مخې ته سپين کاغذ پروت وي، تۀ ورته په ټغو ټغو ګورې څۀ ليکل پرې غواړې خو ليکلے نۀ شي.

زۀ تاسو ته د پښتنو په حلقه څۀ وئيل غواړم، چاسره چې زۀ ډېره مينه کوم خو نۀ پوهېږم چې پېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کومه ځایه وکړم، زۀ غواړم چې تاسو هم دوي سره زما غوندې مینه وکړئ خو دۀ سره مینه کول اسان کار نۀ دے ځکه چې دے ځومره ساده دے نو دومره پېچلے هم دے. زۀ غواړم چې دے د خېبر د غرو سرونو او هشنغر ډاګو نه راکوز کړم او تاسو سره یې په شلېدلو جامو دروزرغي پېزار کښې مخامخ کړم چې سترګې یې د سرېتوب، خندا او ورانکارۍ او کپرۍ یې د ماشومتیا او غرور نه ډکه ده چې خپله غریبي او غوښتنې یې پکښې پټې ساتلې دي، زۀ غواړم چې یې راولم او تاسو سره د خپلو هلو ځلو او خوبونو، مینې او دښمنو، زمکو او سنګرونو د خپل نوي ټوپک او زړې ښځې په بابله خبرې وکړي.

خو تاسو به ووینئ چې دا کار اسان نۀ دے، هر څو کۀ ماته دا ګرانه ده چې لیکل له کومه ځایه پېل کړم خو بیا هم ما سره د دې دپاره یو پلان شته، زۀ به وکړے شم چې هغه تاسو ته د خپلې مینې سندره وایي چې داسې تاسو د هغۀ د زړۀ د درزا انګېرنه وکړئ، هغه به تاسو ته د ښاپېرو قیصه تېره کړي، کومه چې هغه خپلو ماشومانو ته اوروي، هغه به درته د خپل کلي یوه پېښه واوري چې دغسې د خپل ژوند نه دې خبر کړي، هغه به درسره د سپوږمۍ خبره وکړي چې دغسې د خپل مئینتوب حال درته وایي، هغه به درسره د خپل دود دستور خبره وکړي چې دغسې د خپل دود دستور نه دې خبر کړي، هغه به تاسو ته د خپلو شوکو، ډاکو، چپاوونو او مخو خبرې وکړي چې دغسې خپل زور درته وښایي، هغه به درته د میا، مُلا او جادو منتر خبره هم تېره کړي چې دغسې د زړۀ تیاره یې ووینئ، هغه به تاسو سره د ژوند او مرګ، سم او ناسم خبره هم وکړي او هیله لرم چې اوس یې لږ ډېر وپېژنئ چې هغه تاسو وپېژنئ نو زۀ به تاسو ته د هغۀ، د هغۀ د سبا او تاسو (پېرنګي) سره د هغۀ د اړیکو په حقله څۀ ووایم، کۀ دا ستاسو خوښه وي او کۀ نۀ خو دے ستاسو ګاونډې دے او ستاسو د کور ډېر بې بختـه پلوو ته روسیه پرته ده. د دۀ پېژندګلو ستاسو دپاره ډېر ارزښت لري ځکه چې (روسیه) د دې سیمو د سبا دپاره پلانونه لري او د دۀ تاسو پلوو ته د راتګ لار د پښتنو په کور ده.

زۀ به اوس تاسو سره ستاسو د دې ګاونډي پېژندګلو وکړم چې په سر یې ښائسته پګړۍ او په تن یې کاخیر ډوله پرتوګ اغوستے دے خو دا خبره به په دې ځائے پرېږدو، راځئ چې د دۀ د پښت او نسل په بابله څۀ ووایو.

## تاریخ

ډېر خلق چې د دۀ پوزې ته وګوري نو د یهودي ګُمان پرې کوي، دک او دلیل یې دا وي چې پښتانۀ د یهودو یوه ورکه کورنۍ ده، د دۀ اسلامي ګروهه او د دۀ په ژوند باندې د مذهب ډېره ژوره اغېزه دې دک او دلیل ته پونده ورکوي خو د دۀ د ژوند لارې چارې او نور مالونه دا ښایي چې دے د یهودي په ځائے د یونان خلقو ته ډېر څېرمه دے.

زۀ د پښتنو د پښت او نسل په لټون پسې ډېر سرګردانه وم، په دې لړ کښې چې ما چاسره صلاح مشوره کولے شوه نو هغه زوړ خرپ او دروغژن هیروډوټس ؤ، دۀ چې به څۀ اورېدل نو په هغې به یې باور کولو او هاغه څۀ به یې لیکل چې په څۀ به یې عقیده وه، هغه د پښتنو سیمه د ببکټریه په نوم سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

يادوي او وايي چې دلته تور تور واړۀ خلق ژوند کوي چې د زرو او مسالو په باپار کښې بوخت دي. هغه مخکښې ليکي چې دا خلق دا سرۀ زر د يوې دشتې نه د سر په بها راغونډوي، په دې دشته کښې د سپو هسې غټ غټ مېږي اوسېږي چې دوي دا سرۀ زر د شپې د سوړو نه د زمکې مخ ته راوباسي، د زرو په دې دشته کښې نمر دومره تاوژن وي چې د اوښ نه سربېره بل کوم ځناور پکښې ژوند نۀ شي کولے، په دشته کښې د ډېر تاؤ او ګرمۍ له کبله دا غټ غټ مېږي د ورځې په سوړو کښې ناست وي او د شپې په يخوبي کښې سرۀ زر د سوړو نه د زمکې سر ته رااوباسي، د نمر د راختو سره څنګه چې دا مېږي خپلو سوړو ته ننوځي نو دا تور تور واړۀ خلق د خپلو اوښانو سره په دشته خوارۀ شي، سرۀ زر راغونډ کړي، په اوښانو يې بار کړي او دنمر د پرېوتو او دمېږو د سوړو نه بېرته راوتو نه مخکښې مخکښې د دشتې نه ووځي. هغه وايي چې په دوي کښې ځنې خلق ووژلے شي او څۀ خلق په تېښته کښې بريالي شي.

د دې خبرو نه دا جوتېږي چې:

1) ...د بېکټريا خلق لکه د يونانيانو هسې جنګيالي نۀ ؤ خو دوي وتلي دروغژن يعنې باپاريان وو.
2) ... د سکندر اعظم په وخت کښې هم لکه چې نړۍ د تجارت او اجاره دارۍ سره اشنا وه.
3) ... د دلې الواک زباتولو دپاره دا يواځنے دليل دے چې پښتانۀ ګنې يهوديان دي.
4) ...ګران هيروډوټس په بشپړه توګه رښتونے ؤ ځکه يې داسې بربنډ دروغ ليکلي دي.

دنيا همېشه د هيروډوټس غوندې په وتلو او دروغژنو خلقو باندې باور کړے دے، د دې نه دا خبره هم څرګندېږي چې د هيروډوټس د خيالي بېکټريا خلق نه تور او واړۀ وو او نۀ اجاره دار تاجران وو، د دې په چپه دا خلق ابغ نبغ، غټ پټ او سرۀ سپين وو او د وخت تيري دپاره يې تجارت نۀ بلکې مرګ ژوبله کوله.

هسې خو ښکاري داسې چې د هيروډوټس ځنې دوستان په بېکټريا کښې د سيندونو په غاړو او درو کښې اباد وو، دې خلقو به ښکلې جونې خپلې مېرمنې جوړولې او خپلو ماشومانو ته به يې د جنګونو، مېړانو، ژوند، مرګ او غاورتيا خبرې کولې، د کلو نومونه او د خلقو رواجونه يې يوناني دي، د يونانيانو غوندې لوئے لوئے شاعران او ستر جنګيالي دي او هم د يونانيانو په څېر ټول جنګونه د ښځو په سر کوي، پښتون خپله مېړنے دے او هم مېړني خلق خوښوي.

د پښتنو څۀ رښتونے ليکلے تاريخ نشته خو په زرهاو داسې نخښې نخښانې يې پرېښې دي چې کۀ سړے ورته ځير شي نو ډېره زده کړه ترېنه کېدے شي ځکه چې د دې پاتې شونو هره تيږه ګويانه ده، ځنې ډېرې لرغونې پاتې شونې د يوناني دور نه په غوڅه توګه بيلې دي، دا په ډول، جوړښت او خيال کښې د هند د اوړيسه ژوند ژواک او تهذيب ته ورته دي يعنې د بوتانو رنګ جوسه او ډول د ننني پښتون سره څۀ سمون نۀ خوري خو کله چې مونږه د بدهـ مت او بدهـ مت يوناني دور نخښو نخښانو، د بدها باچايانو او نورو خلقو بوتانو ته غور وکړو نو روښانه به شي چې دا د ننني پښتون انځور سره ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړښت خوري، داسې بربښي چې د پښتنو دا اوسنۍ غال او تشدد د بدها د يو اوږد سوله ييزه دور چار انگ او انگازه وي.

په نسلي توگه پښتون د يونانيانو سره اغږلي شوي دي خو دا نۀ ده معلومه چې د يونانيانو دا وړومبۍ جرړه د چا سره پيوند شوې ده او هغه اولنۍ خلق څوک وو؟ خو زۀ په دې لړ کښې بېخي فکرمن نۀ يم او نۀ دا انديښنه لرم چې پنځۀ زره کاله مخکښې د دۀ پېژندگلو څۀ وه.

دا پښتون د اسلام نه مخکښې بدهـ پروره او د بدهـ مت نه مخکښې هندو ۋ. زۀ نۀ پوهېږم چې دے د کوم ډول بدها پيروکار ۋ ځکه چې د هغه په زرهاو انځورونه او بوتان دۀ رغولي وو. څنگه چې پښتون ښۀ ويشتونکے او کوټې سرتېرے دے دغسې دومره ډېر خپلواکه دے چې د چا استاځکر ملاتړ جوړېدے شي او هم دا لامل کېدے شي چې وتلے بوت توړنے وو خو ښۀ بدهـ پرست نۀ ۋ.

پښتون هر څوک کۀ دے نو وي به خو يهودي بېخي نۀ دے، يهوديان خپلو بچو ته د جنگونو، مړانو، مرگ ژوبلو خبرې نۀ کوي، دے کېدے شي د هاغه ټولو نسلونو يو گډ نسل وي کوم چې د اسياء د زړۀ نه وخت په وخت هند پلوو ته راغلے دے. لکه ترک، يونانيان، ايرانيان او منگول او دغسې هر نسل خپله خپله برخه د خوي بوي، رنگ جوسې، مذهب او مينه ناکو سندرو په رنگ پربښې وي، د دۀ پنځ او مزاج لکه د دۀ د جامو، د دۀ د شان غمازي کوي، د دۀ جنگ خوښ وي خو سپاگري نۀ، ساز او اواز سره مينه کوي خو سازگرے ښايي نۀ شي، دے مهربانه او زړۀ سواندے دے خو چاته يې څرگندوي نۀ، د دۀ تاد او خيالونه دواړه هېښنده دي، وينه او کپرۍ دواړه تودې لري خو ناچاره دے او کۀ چرې يهوديان داسې وي نو بيا پښتانۀ هم يهوديان دي.

د پښتون د پېژندگلو دپاره دا اړينه خبره ده چې د تېر په ځائے نن باندې غور وکړے شي، دے کۀ يهودي دے او کۀ يوناني، دا په خپل ځائے خو ستا دا گاونډې داسې پنځ او کردار لري چې يا خو به دے زړۀ پورې يار او يا د سر دښمن وي، د ښادمنۍ او خوښۍ څۀ وسيله نۀ لري چې دا د دۀ د ټولو نه غټ ميراث هم دے او ستره ناکامي هم.

## کلي والې سندرې

کلي والې سندرې د يو ملت روحاني انځور وي خو دا اړينه ده چې دغه ملت لرغونے هم وي او رښتونے هم، يو رښتونې انگېرنه لرل دومره د مړانې کار نۀ دے، ډېر گران کار د دې څرگندونه ده او په ځانگړې توگه د هاغه چا دپاره څوک چې ډېر مهذبه وي، کله چې رواج د رغښت شيان شي او سترگې د اورېدونکي مخ ته د خپلې مينې د مخ نه په غور کاتۀ شروع کړي نو دا هاغه وخت دے چې يو قانون په ساز، جذبه په اخلاقو او خواهش په مينه واوړي، اريان مۀ شئ کۀ تاسو ته د پښتون سندرې خونکارې، لغړې او ابغې نبغې ښکارې دا ځکه چې دے په يوه لرې دره يا ورکوټي کلي کښې يواځې او ځانله په لرغوني شاړ شېړ چاپېريال کښې ژوند کوي او د څۀ راټلونکې پېښې (مرگ ژوبله) په انديښنو کښې دومره بوخت دے چې د ځان د پرمختگ او ودې سوچ ترېنه هېر دے.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځئ چې تاسو د دیر سیمې ته بوځم، دغلته دې مونږ پلوو ته راروان دے چې په رنګ جوسه، ډول ډال او لوړتیا برابر سړے دے، ویښتان یې اوږدهٔ اوږده، غـوړ، ږمـنځ کـړي او د ریښـمو سـور رومال یې ترېنه تاؤ کړے دے، داسې بریښي لکه د باچا په سر تاج، سترګې یې غټې غټې تورې کړې دي، په غوږ یې ګل ایښودے دے او شونډې یې په دنداسه ډوبې سرې کړې دي، په لاس کښې یې ستار او په غاړه کښې ټوپک دے چې تر څو پورې تا د هغهٔ سترګو ته جوخت جوخت نهٔ وي کتلي نو تهٔ به وایې چې ګنې څوک ښځونک دے، سترګې یې رنې، د سړیتوب او نرتوب نه ډکې، وېره نهٔ پېژني خو ژوند دومره نهٔ لري چې مرګ وپېژني، دے په دې سرو شونډو او تورو سترګو خپل سر داوتا ږدي، د پښتني قبیلې دا نر بچے په ډاګه مخامخ جنګ کوي او د څهٔ شاته کېږي نهٔ، د وېرې په وخت خاندي او سندرې وایي. راځئ چې د دهٔ سندرې ته غوږ شو.

اے چې قت په قت ګلونه دې په سر کښې ایښودي دي او په سترګو کښې هم

اے زما مینې! تهٔ لکه د نرګس هسې ښکلې يې

اے زما د مینې خزانې

تهٔ زما ژوند، زما روح

او غرنے ګل لاله يې

تهٔ زما د سهار ستورے

لکه د کمبر ګل

د غرهٔ د سر سپینه واوره

ستا خندا لکه د څاو

ستا خبرې لکه مابنامے باد

اے زما د ګلو لښتې چې په سترګو کښې یې درله د سپوږمۍ هسې رڼا اچولې ده

اے زما بلبلې راشه او زما په زړهٔ کښې اباده شه

ښکته د سیند سره پرتو پټو نه چې د جینۍ په خـوږ اواز سـره سـندره اورېـدلے کېـږي او ښـکاري داسې چې دا ګنې په پټو کښې ولاړو ونو ته ګویانه ده او وایي چې:

اے په ما مئینه!

ماله دایلم په سر باندې یوه جونګړه جوړه کړه

چې زهٔ ورته لکه د زرکې په ګډا ګډا راشمه

دا د مینې داستان د غه شان په سندرو او ځوابي سندرو شروع شي، بیا هلک څوک مېنځ تـه کـړي چې د دهٔ مـور پـلار د دې داسـتانه خبر کړي، داسې وګڼه چې هر څهٔ په خېر سره ترسره شـول او د جینـۍ پلارګنـۍ غـاړه کېښـوده خـو داسې کله کله کېږي، د جینۍ مور د وادهٔ نېټه ورکـړي چـې دغسـې دا زرینـه زرکـه هلـک تـه وسپاري، د هلک د غـاړې جینکـۍ پـه ښـکلو ښائسـته جـامو کښـې د نکریـزو د تـال سـره د جینکۍ کور ته رواني وي، په لاره تمبل غږېږي او د تمبل په تال سره سندرې وئیلې کېږي.

زلمے د ښښتر ونې هسې دنګ لوړ دے

او ناوې د ګلابو هسې غونچه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغې په سر زرين شال
او په زنه يې شين خال

دغسې د دوي دواړو وادهٔ وشي او دواړه سره يو ځائے ژوند کوي او دواړه په دې پوهېږي چې د دوي دواړو يو ځائے اوسېدل تر ډېره وخته دپاره نهٔ دي او ډېر زر به د بېلتانه لښکرې دوي د يو بل نه جدا کړي. يوه ورځ دے د کوره بهر ته ووځي او بيا چرې هم پستنه نهٔ شي، د خپلو همپښته او هم نسله خلقو له لاسه په سپين مېدان په ګولو غلبېل کړے شي او ومري، د دهٔ ښځې ته دوه ګړۍ خوشحالي، دوه بچي او د ټول عمر غمونه پاتې شي، هغې د خپل مېړه ټوپک او ستار د خپلو زامنو دپاره سمبال اېښودے وي، کله کله چې په ماښامي کښې ورته د مينې سندره را په زړهٔ شي نو سترګې يې ډېرې درنې شي خو اوښکې د زړهٔ دننه وساتي، هغه خپل مشر زوئے د ځان پورې راجوخت کړي ځکه چې دے په رنګ جوسه کښې پلار ته تللے دے او د کشر زوي خندا يې د پلار هسې ده. په ماښام چې د انغري غاړې ته کښېني نو وړومبے د خپلو زامنو سترګو ته وګوري او بيا د هاغه خالي ځائے ته نو زړهٔ يې خور اور لاړ شي، زمونږ پلار د چا په شان ؤ؟ هلکان پوښتنه کوي، هغه زامنو ته دا نهٔ شي وئيلے چې هغه لوئے ډاکټر، فلاسفر يا عالم ؤ، ورته وايي چې هغه ستر انسان او مېړنے جګړن ؤ او بيا ورته د هاغه جنګ سندره واوروي کوم جنګ چې ملېزو اليزو ته ماتې ورکړې وه، د دوي پلار هم په دې جنګ کښې د دريو ورونو او پنځو تربورانو سره وژلے شوے وو.

نور بيا

## بجلي او بحران

بجلي دے هم بحراني شے يعني بجلي او بحران لازم و ملزوم دي، آبله شپه ټوله شپه بجلي نهٔ وه او په نيشنل ګرډ کښې داسې خرابي پېدا شوه چې ټول ملک يې په تورتم کښې وساته، زمونږ د بجلۍ مثال د ماشوم دے، دا ماشوم چې په خپلو پښو ودرېږي نو زمونږ د نوي نسل زندګي به هم شايد چې خزان وهلي وي، قسما قسم افواه ګانې خورې شوې وې چې د دې ملک خلق مار خوړلي دي، اوس د پرې نه وېرېږي خو دې کرشماتي پېښې يو بل شک پېدا کړو، هغه دا چې يو ائې بجلي نهٔ وه مړهٔ شوې لکه چې د ټولې مشينرۍ نه ورو ورو ساه ووځي، دا پرې يا سيادلي راغلې وه او يا بې هوشي خو کهٔ د لوډ شيډنګ سره سره دغه مشينري د بې هوشۍ سره هم دغسې په لويه پيمانه بلده شوه نو ښهٔ به وي چې خلق په دې نارمل موسم کښې د ګرمۍ سره ځان بلد کړي ګني اوس ځنې کارونه په احتجاجونو او دهرنو هم نهٔ کېږي، هغه د ډاکټر اسرار خبره چې:

خلقو د ښکلو سره ضد مهٔ کوئ
ځنې کارونه په پښتو نهٔ کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دي پټانز

د غني خان

ژباړه: رشید خاطر

## دوېمه برخه

دا ډېره سپېره سړه
او د پسرلي وروستۍ ورځ وه
کله چې حکیم خان او د هغه مېړنو ځوانانو
د علیزو قلا فتح کړه
استازے راغے
په یو پښه کور په کور
کلي په کلي وګرځېدو
او د ملېزو خلقو ته یې د جنګ کولو غږ وکړو
سړو ټوپکو ته لاس کړو
مېرمنې په دعاګانو سر شوې
میاندو چغې سورې جوړې کړې
سړو خپلو بچو ته وکتل
چې په څېلمه ډاګه کښې یې لوبې کولې
غاښونه یې چیچل
او ساړۀ اسویلي یې وکړل
ورور د ورور سترګو ته وکتل
چې څنګه انګېرنه لري
مېرمنو ژړل
او میاندو چغې وهلې
سړي لاړل
ماشومان د وړو وړو زړونو سره
په ژړا انګولا سر پاتې شول
چې پلاران، ترونه او ورونه یې یادول
او د میاندو او مېرمنو ژړا واوېلا به
لا نور دوي په چغو کړل
خو واړۀ په دې هر څۀ نۀ پوهېږې
سړې د ارزو په دره ورتېر شول
د ناروکۍ سر ته وختل
د خندا خوشحالۍ سندرې یې وئیلې
چې سبانے مرګ د نن په ټوقو ټقالو کښې هېر کړې
د علیزو باچا
خپل نیازبین زوي ښکل کړو
چې د باچا یواځنے زوئے ؤ
هغه نر، ځواکمن او غضبناک وو
زۀ له ټولو زیات غاوره او ځواکمن یم
او د هیچا زور او غرور زما مخه نۀ شي نیولے
زۀ به دوي ټول په ګولو سورې سورې کړم
د ملېزو سړو
په مرګ پورې خنداګانې کولو
او باچا پورې ملنډې
لښکر روان شو
سندرې یې وئیلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرګ او ژوند
جنت دوزخ
ونو، ګلونو، اوبو، چینو
او حورو
دا هر څۀ د خدائے شان دے
زمونږ ستاینې او سندرې
او مرګ ژوند هر څۀ تا لره دي
او ستا دپاره جنګېږو
کمزورې ژاړي او
چې څوک جنګېږي هغه جنت ته ځي
او حکیم خان
په اس سور شه
او په ځوانانو یې غږ وکړو
اے د نرانو نیکونو او پلارانو بچو!
اخر هاغه ورځ راغله
دا هاغه ورځ ده
چې وښایئ
چې تاسو جنګ لره پېدا یئ
او رښتوني یئ
او دا ورځ ستاسو نه
ستاسو د وینې، خوبونو، ژوند او ځوانۍ غوښتنه کوي
سندره شئ او د اسونو واګې راکاږئ
د حکیم خان دپاره لاسونه پورته کړئ
چې ژوندے ؤ نو سندره ؤ
او چې مړ شو نو مینه
او د شاهي مردان نوم یې وګټلو
هغه د خپلو سرو نه مخکښې شو
جنګ وشو، وینې وبهېدلې
قلا ونیولے شوه
باچا ووژلے شو
او حکیم خان د هغۀ ښځې خپلې مېرمنې کړې
اووۀ سوه جنازې پورته شوې
ماشومانو منډې کړې
چې هغوي ووینې
چا چې د دوي دپاره خوشحالۍ او خنداګانې راوړې

پښتون د نرم زړۀ لرونکے دے خو نرم زړۀ یې په کړاک او کانړیز تن کښې پټ ساتلے دے، دے دومره ښۀ او مېړنے جنګیالے دے چې په دې بابله د زړې نه زره کمزورې هم چاته نۀ ښایي، وایي چې مۀ دومره خوږېږه چې څوک دې وخوري او مۀ دومره ترخېږه چې څوک دې وتوکي. دغسې خپل خوارۀ یې په پښو کښې رانغاړلي دي او دا یې د ځان ساتنې سوچه، نږه او ساده لار خوښه کړې ده، د دۀ غال وړې پنځ، ځواکمنې او نرم زړۀ سره داسې بې جوړه او بې ډنګه دي چې د ټیکاؤ ژوند تېرولو دپاره ښېخې مناسب نۀ دي البته د جوله ګرۍ او شاعرۍ دپاره ډېر جوت دي، هغه خپل مخ تریخ او بوزه ځکه ساتي چې درنه خپلې پستې او نرمې سترګې پټې کړي، په کتو کښې سوختمن ښکارې خو چې ښځې پسې یې په ژړا ووینې نو دا به دې هېر شي.

د دۀ مور پلار د دۀ پالنه او روزنه د ځان په شان سخته او کړاکه کوي، ورته وایي چې د کوږ کوږې سترګې ډېرې ښکلې دي خو هوا د باتور دپاره پېدا ده نو ځکه دا ملالې سترګې دې پټې کړه، پنجې دې لکه د باتور رااوباسه خو کله کله په ماښامې کښې د ژوند ټولې سختۍ هېرې کړې او لکه د کوږ کوږې کوکو شروع کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے د ګلونو په ځېر ښکلې!
سترګې دې د پستو رڼاګانو ډکې
شونډې دې نشې نشې
چې روغ سړے لېونے کوي
اے خدايه! تا ورکړه انسانانو ته
رڼا او سندره
او وردې کړو زما مينې ته د خندا په ځائے
د سپينو او سرو ګلونو بڼ
او تا ورکړو
مينې له د سمندر هسې زور
او د باچا هسې زړۀ
تا ولې ورکړو ساز تا اواز او رنګ
او د دعا هسې اثر؟
ماله دې د غمونو او ارمانونو دنيا راکړه
زما زړۀ دې له مينې ډک کړو
د مستۍ او حېرانتيا نه
او بيا دې هغې له خوبولې سترګې ورکړې
ښائست او قرار
چې کله د سپوږمۍ هسې ځلېږي
کله د تورنګي هسې خوارېږي
کله له طمعو او خوبونو ډکې
اے د دوزخ، قيامت او دردونو خدايه!
اے د کږو وږو وېښتو، ملغلرو او سندرو خدايه!
اے د مينې، ښکلا، ځوانۍ او لېونتوب خدايه!
اے د پرپرک هسې مينې او د ګلونو هسې خوبونو خدايه!
د نرګس، ګل لاله او ګلابو خالقه!
او د باد سبا، ساز او مينه
نو تا بيا ولې د ښائست نه
د خاورو دا ښار اباد کړو؟
او تا ولې ورکړو مينې له
د ځان هسې رڼا او سندره؟

دا غريب (پښتون) د مُلا په خبره دومره نۀ پوهېږي څومره چې زۀ د دۀ په خبره پوهېږم.

ما خو تاسو د دۀ د سندرو په معنٰي پوهه کړئ خو د دې په سُر او تال نۀ، کوم چې د دې بنسټيز توکي دي، تاسو د دې په لوستو باندې هله پوهېدے شئ چې کله دا ووينئ او واورئ، تاسو د دې په يو بېت هم پوهېدے نۀ شئ تر څو پورې چې پرې ګوتې رانه کاږئ او د اننګو سره يې ونۀ مښئ دپاره چې د دې په ژور، پېچلي او پوست سوري باندې پوهه شئ او جوړ يې کړئ. په ربښتيا کۀ تاسو د پښتون سندره اورېدل او پوهېدل غواړئ نو بيا تاسو له پکار دي چې په ماښامي کښې د يو سيند غاړې ته لاړ شئ، څۀ وخت چې جونې له ګودره اوبۀ وړي او ځوانان د ديدن په تمه د ګودر نه ګېر چاپېره پيرونه خوري، دا د دې ځوانانو دپاره د شرابو د نشې نه کم نۀ وي.

ما تاسو ته د پښتون کلي والې سندرې او يوه عامه زړه قيصه تېره کړه چې په وادۀ او ماشومانو باندې تمامېږي، مينه او وادۀ د دۀ د رواياتو مهمه برخه ده، د پښتون دپاره مئينتوب او وادۀ تړلي او پېيلي دي، هيڅ يو پښتون د وادۀ نه سربېره د مينې سوچ نۀ شي کولے او کۀ چرې داسې څوک وکړي نو دا د سر په بيعه وي او نو ځکه د پښتنو د مينې ټوله شاعري د دې نه ګېر چاپېره ګرځي.

کۀ تۀ روايات مات کړې نو په دنيا کښې کۀ تۀ چرته هم اوسېږې خو ټولنه به درپسې لټون کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ستاینه به دي کوي، څوک چې بُتان ماتوي سړے د هغه پرستش کوي او ځان د بُت خانې ساتنې او عبادت ګزار ګڼي.

یو پښتون سړے د خپلې لور خاوند وژني خو بیا هم د مینې ستاینې وایي، تهٔ به ومنې چې دا ډېره هېښنده رویه ده خو ستا د دې رویې نه زیاته هېښنده نهٔ ده چې غل په سولۍ خېژوې او د باپاري مرسته کوې، دا د سړي روحیه ده چې عیسیٰ سولۍ خېژوي او پیلېټ تا د خوړنې بلنه ورکوي خو کله چې سندره وئیل شي نو دا بیا عیسیٰ نهٔ وي چې پېلېټ د قانون دپاره څوک د مینې سندره نهٔ وایي او نهٔ چرې یو شاعر د هاغه ښځې دپاره د مینې سندرې لیکي چې د کومې ښځې لس بچې وي.

پښتانهٔ هم ستاسو غوندې انګېرنې لري خو کهٔ تاسو جبل خوښوئ نو دے کارتوس خوښوي، ستاسو او د دوي احساسات او انګېرنې یو شان دي خو د پښتون څرګندونې ځواکمنې او طاقتورې دي، څکه چې دے خپله ځواکمن او غریب دے، دے خو پیلېټ تا مړه خوړیزه نهٔ شي ورکولے بس یو چک ډوډۍ ورکولے شي، خو کله چې د مینې سندره بولي نو سترګې یې ستاسو غوندې د مستۍ او خوب نه ډکې شي، څکه چې مینه او خوبونه لکه د شرې او ښاپېرو هر ځائے دي.

## یوه پېښه

د پېښور په سیمه کښې د ژمي شپې تکې تورې، اوږدې، خوندناکې، یخې او دګنګوسو نه ډکې وي، دا ډېره ښهٔ لګي چې سړے د اور په غاړه ناست وي، لمبو ته ګوري او خپلو خوبونو له رښتیا لټوي. زهٔ د نور کله غوندې د اور غاړې ته ناست وم او په اور مې لرګي اړول رااړول چې په دې کښې مې د خپل زړهٔ پورې دوست مرتضیٰ خان د راتلو غږ تر غوږو شو او د لرې نه یې اواز پورته کړو: یاره! چرته یې؟ راځه راځه زهٔ دلته کښې یم، ور مې ورته لرې کړو، د هغهٔ دواړو ټوپکمارو راته سلام وکړو او بیا غاړې ته شول، زهٔ او مرتضیٰ خان دننه لاړو او کښېناستو، دے نرے پرے او د کچ نه لږ زیات لوړ ؤ، د هغهٔ سر غټ، تندے پلن او زنه یې کونجنه وه خو کوم څېزونه چې د هغهٔ په مخ کښې ډېر په ډاګه او ښکاره وو نو دا د دهٔ نهٔ غلې کېدونکې ورکوټې خولهٔ، خونکارې شکمنې سترګې، د څېرکتیا نه ډک غټ سر او غاړې ته پرته تماچه، جامې به یې ډېرې پاکې نهٔ وې او لاسونه به یې خیرن او غټ غټ وو، د سړي زړهٔ به نهٔ غوښتل چې دے دننه راشي خو زما زړهٔ د هغهٔ سره ؤ، ور به مې ورته پرانستو څکه چې مونږه د نیکونو راسې د یو بل دوستان وو.

مرتضیٰ خان د غاوره خان مشر زوئے ؤ او ددې غرور ساتلو دپاره دهٔ ډېر په وړوکوالي کښې سړے وژلے ؤ چا چې د دهٔ د پلار سپکاوے کړے ؤ. د دیارلسو کالو په عمر کښې مفرور شو، د دېرشو کالو ؤ چې ونیولے شو او څوارلس کاله یې د هند په زندانونو کښې تېر کړل چې د زندانه راغلو نو په ملي غورځنګ کښې یې ګډون وکړو او بیا جېل ته لاړو. دے په جېل کښې د ټولو نه تورن او بدنام بندي ؤ څکه چې دومره زور او کمزورے ؤ چې سخت او کړاک کار به یې نهٔ شو کولے، کهٔ څهٔ کار به

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې کولو نو هغه هم د خپلې خوښې، د جېل خانې چاروا کې يې پوزې له راوستي وو، هغه دننه راغې او د اور غاړې ته زما مخامخ کښېناستو، ما ترېنه پوښتنه وکړه:

کمانډره! ژوند څنګه دے؟

هغه په ۱۹۳۰ء کښې سُرخ پوش (خدائے خدمتګار) کمانډر ؤ، هغۀ په اور باندې اوږد نظر واچولو او ګويانه شه:

زۀ اوس دومره زوړ شوے يم چې د ژوند په معنې پوهه شوم.

ما د هغۀ شکمنو سترګو ته وکتل، دا نېغې او خوبولې وې، هغۀ زۀ يو دوست او ملګرے منلے وم نو ځکه يې شک راباندې نۀ کولو، ما ترېنه پوښتنه وکړه، کومه چې به ما هميشه د هغۀ نه کول غوښتل،

دا راته ووايه چې د مخرورتيا په وروستيو ورځو کښې تا خپل زړۀ پورې دوست عطا ولې وژلے ؤ؟

هغه زما سترګو ته جوخت جوخت وکتل چې ځان ډاډمن کړي او بيا اور ته،

عطا ما د خپل ترۀ دپاره وژلے ؤ ځوک چې زما اوس هم ډېر بدې شي، تاته معلومه ده چې زۀ دولس کاله ياغي وم او ماسره به د مخرورانو لويه ډله وه چې د شپې به يې په کلو او لارو ډاکې اچولې او د غلا مالونه به يې ماله راوړل، ځکه چې د هغوي د چائے ډوډۍ او ټوپک تماچې بوج زما په غاړۀ وو، له دې امله زۀ د ترۀ ډېر خوښ وم، په دا رنګ ورانکارو کښې به يې زما ډېره ډاډګيرنه کوله او سپوټ به يې راکولو او د دې په بدل کښې به ما د هغۀ دښمنان کېمنډل، هغه ډېر لالچي ؤ، زما په وجه به پېرنګې سرکار او د کلي خانانو د هغۀ ډېر درناوے کولو خو په دې هر څۀ باندې زۀ ډېر وروستو پوهه شوم، زما دا خيال ؤ چې ترۀ په ما مئين دے ځکه چې زۀ د هغه وينه او وجود يم، زما پلار د دۀ ورور دے او ما چې به څۀ کول نو ډېر په مينه او اخلاص سره به مې کول.

د ژمي په يو يخ ماښامي کښې ما پسې زما پټغالي ته استازے راغے چې زۀ دې د خپلې ابۍ پوښتنې دپاره د هغې کور ته لاړ شم چې هلته ورسېدم نو درنګ شېبه وروستو مې ترۀ هم راغے، راتلو سره يې راته يوه لويه قيصه تېره کړه چې عطا څنګه زما د دښمنانو سره زما د وژلو باندې تړې، هغه ما له په پېښو پرېوتو او په ژړا شو چې ما بچ کړه او د خپل خاندان غرور او درناوے وساته، ما چې د هغۀ اوښکو او رپېدونکو لاسونو ته وکتل نو چورلټ مې انکار وکړو، دې خبرې سره زما تندار مېنځ ته راودانګل خو نۀ هغې ژړل او نۀ يې لاس رېږدېدل خو سترګې يې د اسرې او سوالونو نه ډکې وې، زما نه يې پوښتنه وکړه کۀ چرې زما د سترګو د وړاندې ځوک زما د پلار ورور مړ کړي نو؟ هغې زياته کړه چې ترۀ دې زوړ بوډا سړے دے او تۀ له خبره ځوان او تکړه يې، تۀ به د خپل خاندان دا پور نۀ ورکوې چې تۀ يې زېږولے، لوئے کړے او دومره نوم يې درله درکړے دے؟ ستا پلار عبدالله خو چرې پاتې نۀ ؤ راغلے، هغه خان پېدا ؤ د خانانو غوندې يې ژوند کولو او خان غوندې مړ شو.

دې خبرې اوربدو سره زما خود لاړو او د عطا د وژلو نيت مې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګه دې مړ کړو؟، ما ترېنه پوښتنه وکړه، هغه خو ډېر زورور، زړور او بې رحمه سړے ؤ، هغه خو واري د سرکار او د خلقو د قانون د ښکېل نه وتلے ؤ.... عطا زما ډېر بدې شو ګو چې هغهٔ په رنګ جوسه او لیدو کتو کښې ډېر ښکلے وو او خلقو به د هغهٔ د بهادرۍ او نرتوب په لارو کوڅو کښې ستاینې کولې خو دهٔ زما د هم جومات بوډا پلار وژلے ؤ، هاغه وخت زهٔ وړوکے وم او دومره نهٔ پوهېدم په دې بوډا سړي باندې د مرګ بدل پاتې وو، څهٔ چې دهٔ په ځوانۍ کښې کړلي وو هغه عطا په خپله ځوانۍ کښې لوَ کړل، د پښتون سړي د وینې تویولو نه سربېره په بل څهٔ د بدل تنده نهٔ سړېږي او خوا یې هله سړه شي چې وینه وه بیوي، د دهٔ دپاره څهٔ شیان داسې دي چې د خپل ژوند نه ورته زیات خواږهٔ وي او ځنې داسې هم دي چې هر څهٔ سره سره پرې خپل ژوند هم داؤ کوي، په ځوانۍ کښې دا بوډا سړے ډېر مست او زورور ؤ، کمزورے او غریب خلق به یې تنګولو او د هغوي ربنتې به یې د پښو لاندې کولې خو وخت تېرېدو سره کمزورو خلقو عطا پېدا کړو، هغه چې زلمے شو نو پوهه شوه چې زما مور او ورونه ولې د کوزو سترګو ژوند تېروي، هغه د بوډا سړي د وژلو فېصله وکړه، ځکه چې دا د کوزو او ټیټو سترګو ژوند تېرول یې خوښ نهٔ ؤ، هغه دومره ښکلے او ځواکمن ځوان ؤ چې شرم ته غاړه کېږدي، ټوپک ته یې لاس کړو او په ډز سره یې شرم تس نس کړو، سترګې یې اوچتې کړې او خلقو ورته درناوے ووې خو زما بدې شو، ځکه چې ماته د بوډا سړي تېرې کړنې او تاریخ نهٔ ؤ معلوم، زهٔ د هغهٔ او د هغهٔ د ښځې د سپینو ویښتو او مهربانه رویې نه متاثره وم او د دهٔ د تاریخ نه بېخي ناخبره وم، ټولنه سرکښه خلق ډېر خوښوي او چې د عطا غوندې ښکلے او بهادر وي نو بیا خو یې په سر سترګو ګرځوي، د زړو بدې شو خو د ځوانانو نښان وګرځېدو، یوه ورځ هغه زما د نیکهٔ ژرندې سره مړ پروت ؤ او د کلي خلق د هغهٔ د لیدو دپاره ورمات وو، زهٔ هم ورغلم، دغه وخت زما عمر دولس کاله ؤ، ځنګه چې هغه مړ شو نو خلقو د هغهٔ جرمونه او بدۍ په ګوته کول شروع کړل او د هغهٔ په ځائے یې د مرتضې د سندرو سر اړولو، دغسې ما هم ځکه چې هغه زما د دوست د پلار د مرګ بدل اخستے ؤ.

نور بیا

## غمرازي

دا خبر د اې اېن پي ګومل څانګې ټانک کارکنانو راکړے دے چې د ضلع ټانک ګومل څانګې د سرګرم کارکن رحمت شاه قرېشي داجي حاجي فضل شاه قرېشي د اتیاؤ کالو په عمر کښې په ۱۲، ۰۴، ۲۰۱۳ء وفات شو. لوئے خدائے دې هغه وبخښي او غمژنې کورنۍ ته دې د زړهٔ صبر ورکړي. آمین.

مونږ د "پښتون" اداره د رحمت شاه قرېشي او د هغهٔ د غمژنې کورنۍ سره په دې درونډ غم کښې برابر شریک یو، لوئے الله دې هغه ته په جنت الفردوس کښې مقام او غمژنې کورنۍ ته د صبر او زغم توفیق ورکړي. آمین ثم آمین.

اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library




دریمه برخه

ډېر وخت لا تېر نهٔ ؤ چې مرتضٰي مې په هتکړو او بېړو کښې بندیوان ولیدو، د پولیس یو لوئے گارت (پولیس پارټي) چې د کلي د خلقو مرسته هم ورسره وه، ټوله شپه ډزې وکړې خو اخر ونیولے شو، چرته مرتضٰي، د هغهٔ دوه ځلور ملگري او چرته سرکار، چې کله هغه او د هغهٔ ملگرو سره کارتوس ختم شو نو ټوپکې یې کوهي ته ارتاوې کړې او د ورځې په رڼا کښې یې پولیس ته ځان ورکړو، کهٔ په تیارهٔ کښې یې ځان ورکولو نو د دوي د وژلو وېره وه ځکه چې دښمنانو یې پولیس ته بډې ورکړې وې.

په اول وار ما دے په هتکړو کښې لیدلے ؤ، د پولیس گارت ترېنه مخکښې وروستو روان وو او مرتضٰي او د هغهٔ ملگري په مینځ کښې، هغوي یې په ټول کلي کښې وگرځول او راته یاد شي چې هغه په ټول گارت باندې شربت هم څښولے وو، ما به په غرور او ویاړ سره خپلو همځولو ته وئیل چې دے زمونږ خپلوان دے، مرتضٰي خان او د هغهٔ ملگري تاڼې ته بوتلے شول، وروستو بیا جېل ته او اخر کښې عدالت ورته د شلو کالو سخته سزا واوروله.

ډېر کاله پسته کله چې مرتضٰي د بند نه راغے او زهٔ د سکول او امریکن کالج نه فارغ شوم نو ما دے ولیدو او دواړه د چوتي یاران شو، زما د هغهٔ د مرگ ژوبلې، شوکو ډاکو خبرې خوښې وې او ما به ورته د اروپا د دنگو دنگو لوړو ودانیو، د فرانسیسي جینکو او هسپانوي هلکانو خبرې کولې.

ښه نو تا عطا څنگه ووژلو.

ډېر اسان، هغه جواب راکړو. د عطا په کلي کښې ډېرې دښمنۍ وې، هغه به هر کله زما نه مرسته او کومک غوښتو چې زهٔ په دښمنانو وژلو کښې د هغه لاس امداد وکړم، یوه ورځ سهار وختي درې بجې مونږ د خپل پټغالي نه رااوتو چې کلي ته راشو او سړے مړ کړو، ما سره به هر وخت دوه ټوپکمار وو خو عطا به یواځې گرځېدو، ځکه چې ناچاره ؤ او نوکران یې نهٔ شو ساتلے، څنگه چې د مخرورانو دستور وي چې د شپې ځان ځانله روان وي او د حملې یا گزار کولو په وخت راغونډ شي، مونږه چې ستاسو جرندې خوا تا رااورسېدو نو دغه ځائے ترېنه زهٔ د دمې کولو په بهانه ډډې ته شوم، عطا زما نوکرانو سره دا خبرې کولې چې سړے به څنگه وولو چې په دې کښې ډز شو او ورپسې بل ډز او دغسې عطا په وینو کښې لت پت مړ پرېوت،

مونږه په کندو کپرو پنځهٔ میله په یو سا منډه ووهله او خپل پټغالي ته مو ځان ورسولو.

خو دا تاسو تښتېدئ د چا نه، ځکه چې عطا مړ ؤ او تاسو پسې د چا زغل نهٔ ؤ؟ ما ترېنه پوښتنه وکړه.

تاته معلومه ده چې هغه ډېر زړور، زورور او ناتاري سړے وو، هغه مړ شو خو ما نهٔ منل چې ګني هغه مړ دے، کهٔ رښتیا درته ووایم نو دا زمونږ منډه او تېښته د عطا د مړي (لاش) نه وه.

ګویا تهٔ د هغه نه وېرېدې؟ ما ترېنه پوښتنه وکړه.

تهٔ خبر یې چې زهٔ یو د ناروغتیا نه وېرېږم ځکه چې ناروغه او رنځور بنده ډېر بې وسه وي او ټول دارومدار یې په نورو خلقو وي خو دا هم د چا نه پټه خبره نهٔ ده چې هر یاغي او مغرور سړے د هر چا نه وېرېږي، ځکه چې په دهٔ باندې د خلقو بدلې پورې وي، ما په عطا باندې باور نهٔ کولو ځکه چې کهٔ چرې هغه زما ترهٔ وژلے شي نو ما هم، کهٔ خبره دې ځائے له راشي چې ځان خوږ دے او کهٔ بل نو ځرګنده خبره ده چې بنده د بل سرې په مرګ چاړه راکاږي. زما ترهٔ زهٔ د داسې وختونو سره مخامخ کړم چې اخر عطا مې ووژلو، په دې ټوله لانجه کښې بې زما د ترهٔ د چالاکۍ نه بل هیڅ هم نهٔ ؤ. دې خبرې سره هغه راښکلې شو او د هغهٔ خړې سترګې د سوخت او پښېمانۍ نه ډکې شوې، ما دا اراده کړې وه چې دا خپل ترهٔ مړ کړم خو چې د جبله راغلم نو یو خو هغه ډېر بوډا او بل زهٔ د سُرخ پوش سیاست په لانجه واوختم.

هغه بړک بړک په خندا شو، اوړې یې وشنلې او راته یې ووې کهٔ ما هغه نهٔ وژلو نو بیا به هغه زما ترهٔ وژلو، دا خبرې پربړده دې ستار له دې لاس کهٔ او یو نغمه راته واوروه.

پنځ ډېر بې رحمه وي او د چا د خوبونو او ارمانونو خیال نهٔ ساتي، ژوند ډېر سخت، کړاک، هوار او کانیز وي، کوړ کوړې په کتو کښې ډېره ښکلې لګي او زړهٔ پورې سندرې وایي خو ژوند او زور په باتور او د هغهٔ په پنجو کښې وي، زهٔ پېدائشي باتور یم او ځکه باتور خوښوم، کهٔ چرې د کوړ کوړې داسې نهٔ وي خوښه نو دا د هغې خپله سودا ده، دا دنیا د وړو وړو مرغو او مارغانو په ځائے بازونه او باتوران زیات خوښوي، ما د مرتضیٰ نرو نرو شونډو ته وکتل او اتفاق (یوون) مې ورسره وکړو، ځکه چې هغه دومره ډېره موده غارندویه پاتې شوے ؤ چې د هغه دپاره په کمترو کوړکوړو، مازیګرونو، رنګونو او رڼاګانو پوهېدل ګران وو.

## د ښاپېرو قیصه

پخوا پخوا په خالون کښې یو ډېر ښکلې ښاپېرې ژوند کولو، دا ښاپېرے د خالون د قبیلو واکمن ؤ او هم دغسې د دهٔ پلار نیکهٔ هم د دې قبیلو واکمن پاتې شوي وو، د دې ښاپېري وادهٔ د یوې داسې ښاپېرۍ سره شوے ؤ چې په ګړده نړۍ کښې یې د ښائست ثاني څوک نهٔ ؤ، هغه د ګلابو د غوټۍ هسې نرمه، پسته او ورېښمنه وه، د هغې بدن او شونډې دواړه نرۍ پرۍ او نازکې وې، ګوتې یې اوږدې اوږدې، ښکلې، نرۍ وې او اواز یې لږ ډوب، پوست او خوږ وو خو څهٔ چې په هغې کښې



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې کچه ښکلې ؤ او دا یې بې ساره جوړه کړې وه نو دا د هغې غتې غتې پړکېدونکې سترګې وې او په دې کښې به د هغې خندنه روح او د هغې د دنیاګۍ رنګونه یو مخې په ګډا وو چې درناوے او ګرمي دواړه به پکښې وو. د دې د سترګو سورے د سور، هودي او زرین رنګونو نه ډېر زیات ژور او ډونګے ؤ، شهزاده ته به د دې جادوګرو سترګو انګېرنه هاغه وخت کېده چې کله به د لرې نه د غم او سوز نه ډکه سازینه د هغۀ تر غوږو شوه، د ښاپېرې د دې احساس سره به د هغې د سترګو نه رڼاګانې، رنګونه او ګرمي لور په لور وغوړېده او د هغۀ په زړۀ کښې به ژوند، هیلو او ارمانونو داسې غزونې وکړې چې د دنیا په ګوټ ګوټ کښې به خورې ورې شوې.

د خدائے کارونو ته ګوره چې یو ورځ شهزاده د خوبه بېدار شو نو د شهزادګۍ سترګو ته یې وکتل او وې لیدل چې د هغې د سترګو ښکلا او رڼا دواړه په کمېدو دي، د درباري طبیبانو داروګانو، بوټو او دم درود پرې څۀ اغېزه ونۀ کړه او یو مخې د سترګو رڼا تته کېده، د شهزادګۍ په دې حال باندې د خالون د ټولو قبیلو خلق ډېر زهیر او دلګیر وو.

په داروګانو چې د شهزادګۍ څۀ ښېګړه ونۀ شوه نو شهزاده د دربار ټول هوښیار کسان راغونډ کړل چې په دې مسئله باندې غور وکړي، په دې هوښیارانو کښې یو شاعر هم ؤ چې عمر نومېدۀ، هغه ووې چې د دې رڼا دا برخه ده چې زمونږ له نظره به پناه کېږي خو ورکېږي نۀ او بېرته هاغه ځائے ته پستنه کېږي له چرته نه چې ووځي، څنګه چې د ساز یو کړنګ د خاموشۍ په لار خورېږي او هم دا خاموشي د ساز اواز رغوي، دا څۀ د خفګان خبره نۀ ده، هغه شهزاده ته مخ راواړولو او زیاته یې کړه چې تۀ په دې درکړي شوي اواز باندې شکر ووباسه کوم چې د جنتي سندرو نه هم زیات خوږ او زړۀ راښکونکے دے او تا د یوې داسې ځړیکې په رڼا کښې عبادت کړے دے چې د کومې رڼا د سپوږمۍ او نمر نه بې بها زیاته او پړقنده ده نو اوس تۀ د خپلو خوبونو نه رنګ، زړۀ نه رڼا راواخله او د دې په سترګو کښې یې وپوکه او داسې ستا یاد به هاغه نغمو ته جوسه ورکړي کومې چې د دې نه بهر ته راوځي.

څنګه چې شاعر خپله خبره سر ته ورسوله نو خلیل نومي درباري راپاڅېدو او شاعر یې ډېر راکاږلو چې لوئے ګوته مار او جادوګر یې، ټولې خبرې دې کړې وړې او د خیال پرستۍ نه ډکې دي، هغه شهزادګۍ ته وکتل او ګویانه شه چې د خیالونو د دنیا به بهر ته راووځه، دا رښتیا دي چې تۀ د حورې شانې ښکلې یې خو په دنیا کښې نورې هم سترګې پړکېدونکې جونه ژوند کوي، زۀ به ستا دپاره د شمیم له درې نه داسې جونې راولم چې ستا کور به لکه د اوړي د شپې د ګلبن غوندې روښانه کړي.

شهزاده دې خبرو اورېدو سره ډېر سوخت شو، په تونـدۍ پاڅېدو هغه یې د ږیرې نه جوخت راونیولو او داسې شڼ یې ورکړو چې ږیره یې ورله د مونډه کونډه راوویستله، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ړیره لکه د هغهٔ د پوهې اوپره او ورسته وه، شهزاده ځان لږ سنبال کړو او حکم یې وکړه چې دا سړے د سترګو په رپ کښې د محل نه وباسي او دغسې خلیل استاذ خفه زهیر بهر ته لاړو او په تلو تلو کښې ورته د پلار دا خبره رایاده شوه چې مئینانو ته پند کول د بې عقله او بې سوله خلقو کار دے، دې خبرې سره هغه وګڼله چې زهٔ ناپوهه یم او د پوهې او دانش د دې احساس او انګېرنې سره لږ ډاډه غوندې شو، څهٔ درنګ شېبه وروستو د ځان خندنې سره ملامته ملامته کور ته روان شو چې د نیمګړو او خپسې شانې خوبونو سره اودهٔ شي.

د دې پېښې سره په دربار کښې د څهٔ وخت دپاره درنه خاموشي او چپ خور شو او دا ګونګې هله مات شو کله چې رحمان نومې بزرګ او ولي راپاڅېدو، شهزاده ته یې مخ کړو او په زغرنده او درونداواز یې شهزاده ته ووې چې زما خبرې د زړهٔ په غوږو واوره ځکه چې دا خبرې زما خبرې نهٔ دي، هغه ووې چې د خالون نمرختیز لورې ته د سیند نه پورې خواته یو سړے اوسېږي چې خلق یې د سوالګرې په نوم سره پېژني او د هغهٔ په زړهٔ کښې د رنځونو رغولو او درملنې دریاب بهېږي او د دې دپاره هغه په وخت او مرګ دواړو باندې برے موندلے دے، هغه په شهزاده غږ وکړو چې د دې سرې په لټون پسې ووځه او د شهزادګۍ د سترګو دپاره ترېنه د کمال نه ډک ځاځکي وغواړه، دا ځاځکي د هغې په دواړو سترګو کښې وڅڅوه او تهٔ به ووینې چې د شهزادګۍ به بیا او د مدام دپاره هم

هاغه شان ښکلې، ملالۍ، پړقنده او خوبولې شي، څنګه چې مخکښې وې.

شهزاده دې خبرې اوربېدو سره ډېر خوشحاله شو او کلکه طمع یې پیدا شوه او درباریانو هم ساه واخسته، یو بل ته یې وکتل او د ولي د خبرو چې د کرامت نه ډکې وې، ډېره ستاینه وکړه، ځنې درباریانو پکښې هسې د خبر لاسونه په ړیرو راکاړل، شهزاده د خدائے په توکل خپل ټول سړي، ښکاریان، سپي، حکیمان راغونډ کړل او د فقیر په لټون پسې پره شول. د خالون ټولې ښکته بره سیمې یې ولټولې او اخر فقیر یې په لاس راغلو، لیدو سره ترېنه شهزاده پوښتنه وکړه چې اے فقیره! ستا په زړهٔ کښې څهٔ دي؟

مینه او خندا، فقیر په خندا کښې ځواب ورکړو.

بیا شهزاده ترېنه سوال وکړو چې تهٔ ماله د دې نه یو دوه ځاځکي راکولے شې؟

ولې نهٔ کهٔ تهٔ د دې بیه ورکولے شې.

هو جي قربان، تهٔ بیه ښایه، شهزاده ووې. فقیر شهزاده ته ووې چې د خندا د ځاځکي ارزښت ستا د باچایۍ او د مینې د ځاځکي قیمت ستا د غرور برابر دے.

شهزاده چې دا خبرې واورېدې نو د ښېو نه یې زمکه وتښتېده او تندي له یې ټس ورکړو چې د دوو ځاځکو دومره لوئے قیمت، دا باچایي خو ماله لوئے خدائے راکړې ده او ورسره یې څهٔ اختیارات هم راکړي دي، فقیره! نهٔ خو ستا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړۀ کښې د شهزاده دپاره څۀ مينه شته او نۀ تۀ په شهزادګۍ خفه کېږې، کۀ دا باچايي تاله ما درکړه نو دا هر څۀ به تۀ په دوه ورځې کښې ګز ګُنبت کړې او په خالون کښې به د رښت او قانون په نوم هر څۀ سره په بډه ووهې، شهزاده چې څنګه دا خبرې ختمې کړې نو حکم يې وکړو چې دا فقير د لاس او پښو نه وتړئ او د محل په تهه خانه کښې يې بند کړئ.

سهار سبا، د خدائے شان ته ګوره چې د فقير په ځائے خرمن، هډوکي او چېرړې پرتې وې، فقير تللے ؤ او د ځان سره يې مينه او خندا دواړه وړې وو او په دېوال ليکلي شوي ؤ چې اے د شهزادګانو شهزاده! څۀ چې ستا د قانون او رښت د لاندې دي هاغه څۀ مې تاته پرېښودل، اوس تۀ پوهه شه او ستا قانون او زۀ درنه لاړم.

شهزاده چې دا هر څۀ وليدل نو ډېر سوخت شو څکه چې تراوسه پورې هغه ته چا ماتې نۀ وه ورکړې، هغه دغو هوښيارانو ته هم ډېر غصه ؤ او د ټولو نه يې ډيرې وويستلې، په شهزادګۍ يې هم زړۀ ښۀ يخ کړو او دواړه سترګې ترېنه وباسلې، ځکه چې د دۀ ماتې او شکست لوئے لامل هم هغه وه، شهزاده خليل راوغوښتو او د ښو اسونو، سازګرو، بازونو او ښکاري سپو سره د شميم درې ته روان شو او په شميم کښې يې دغه يوائينے شکست د ډېرو برياو په نوم هېر کړو.

او غريبه شهزادګۍ ړنده پاتې شوه.

نور بيا

## د چين او سوئيټزرلېنډ ترمينځه د ازاد تجارت تاريخي لوظنامه

په تېرو ورځو کښې د چين او سوئيټزرلېنډ ترمينځه د ازاد تجارت په حقله د دواړو ملکونو د مشرانو ترمينځه په يوه لوظنامه دستخطونه وکړے شول. په دې فرېم ورک کښې چين په وړومبي ځل د مغربي معيشيت سره وابسته ملک شو. د دواړو ملکونو ترمينځه به د ګړيو، دوايانو، ټېکسټائل او د پيو نه د جوړونکو څيزونو د درامد او برامد ماليت ۲۲ ارب ډالر وي، د دستخط نه پس د چين وزيراعظم ووې چې د دې تجارت اثرات به د سوئيټزرلېنډ د سرحدونو نه بهر هم محسوس کړے شي.

هغوي زياته کړه چې دا د چين او براعظم يورپ د معيشيت ترمينځه د ټولې دنيا او د ۲۰ لويو معيشيتونو ترمينځه د خپل نوعيت وړومبۍ لوظنامه ده او دا د عالمي ازاد تجارت دپاره يوه داسې بختوره ابتداء ده چې اثرات به يې په عالم انسانيت پرېوځي.

دنيا به د دنيا د تنهايۍ نه راويستل وي
جنګونه به د امن په خوړو کښې بدلول وي

دنيا به د دنيا ټولو قدمونو ته ښودل وي
په سر کښې به تخريب نۀ د تعمير جذبه ساتل وي

(c) ketabton.com: The Digital Library




په تېر پسې

ثلورمه برخه

## دود دستور

کله چې قانون د يو نسل په خويونو او کړو وړو کښې واغړلے شي نو رواج ترې جوړ شي او دا بيا تر ډېره وخته پورې موجود وي، اګر چې اړتيا ورته نۀ وي او نۀ هغه چاپېريال پاتې شوے وي. يو سړے خپلو بچو ته يوائې د خپلې جوسې او کړنې ميراث نۀ ورکوي بلکې هغوي ته د خپلو ښو او بدو، وېرې ترهې، کرکې، کينې او سندرو درس هم ورکوي، هغه خپل بچي د خپل ځان غوندې لويول غواړي، د داسې کولو دپاره يو پرمختللے سړے دا کار د سکول، کتاب، پرېس او نورو ادارو په وسيله کوي، هغه دا شرم نۀ ګڼي کۀ څوک په ګولۍ مړ کړي او يا څوک په سولۍ وخېژوي او بيا دغه خبرې خپل کور کښې کوي. هځوب د يو سړي د ځاني تکامل د ټولنې نيمګړتيا پلو ته تسلسل سره ماتې ده، هځوب يا تهذيب د ډون جائز سندرو نۀ دے رغولے بلکې دا د منځني مهال د ښاغليو خاوندانو کوټلو او سپېځلو هځو او کړنو رغولے دے. دا نو ولې د دۀ خندا دومره خوندوره نۀ ده، هر نسل ته په پاتې شونو کښې د کرکېچنو او پېچلو يو امبار پاتې کېږي، دا نسل ورسره خپل يو ځائے کوي او مخکښې نسل ته يې ورکوي. وخت په وخت د قوانينو او ګروهو بوج پرې بارېږي او يو وخت راشي چې سړے د دې امبار د وړو توان نۀ لري او پړمخې راپرېوځي، هر څۀ تالا ترغه شي او کلتور مړ شي، کمزورے له منځه لاړ شي او توانمن د کلکو ښو او سپک وزن سره سر وباسي.

رواجونه داسې زنځيرونه دي چې د هغې په وسيله لرغوني انسان دا هڅه کړې ده چې د ټولنې جوړښت سلامت وساتي، دا د هغه مکتب هم دے او راډيو هم، وزيراعظم او پنده ګر هم، تۀ قانون او په خلقو باندې د هغې د لاګو کولو دپاره ادارې جوړوې، هغه رواج اورغولو او د دې ساتلو دپاره يې د نېکۍ او بدۍ الواک رامنځته کړو چې د هغه دپاره دنده ترسره کړي. ستاسو او د هغۀ قانون او رواج په موخه او مرام کښې بېخي څۀ توپير نشته، ستاسو قاضيان هم هاغه يروکې جوغې کاروي کومې چې به د هغوي پادريانو اغوستې وې، ستاسو قوانين په هغوي دومره سپک دي څومره چې تاسو ته د هغوي رواجونه. تاسو په نري تار او غټ پړي دواړو کښې غوټه اچولے شئ، هغوي به نرے ساده تار او تاسو پېچلې او غټه رسۍ کاروئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوي ته دا اړتیا نوره نهٔ وه چې غټ پړي ته غوټه ورکړي او نهٔ ورته ببخي ستاسو د پراخه او غوړېدلي ښارونو د نالو ویالو د سستم کړمه وه خو زړهٔ پورې ځیز غوټه ده، دواړه ځایه دا یو شان ده، ځوک وایي چې دا غوټه کم عقلو د عقلمندو د وژلو دپاره تړلې وه او ځوکوایي چې عقلمندو د کم عقلو د مدد دپاره تړلې وه، کهٔ داسې وي او کهٔ دغسې خو غوټه غوټه ده، د سړي دا سربښندنه هڅه وي چې هغه خپلې وېرې ترخې، خوبونه او تېروتنې د خپلو بچو په سترګو کښې ووینې.

تاسو دې ته قانون وایئ او په کتابونو کښې یې ساتئ او هغه دې ته رواج وایي او د خپلې مېرمن د سینې په خزانه کښې یې خوندي ساتي، ستا د قانون د پېژندګلو دپاره دا ارزښتمنه ده چې تهٔ جج یا مجرم یې، هغه د خوړو د پېژندګلو نه مخکښې خپل رواجونه پېژني، دا د دهٔ سره زېږېږي، دا د هغهٔ د وینا او روزګار سره اغږلي شوي وي، د دې د پوهېدلو دپاره هغه دې ته څهٔ اړتیا نهٔ لري چې د یو قاضي مخې ته ودرېږي او د خپل جرم د قانون پوښتنه ترینه وکړي، څهٔ وخت چې هغه داسې کوي نو هم هاغه وخت یې پېژني، هغه د ځان جج هم دے او جېلر هم، د هغهٔ نیکونو دا لیدلي وو چې دا صحیح دي.

راځئ چې اوس د پښتون د څو رواجونو جاج واخلو او وګورو چې دا څنګه دي. رواجونه د لرغوني انسان په لاسو کښې یو داسې کاټل وو چې د هغې په مدد سره هغه کلتور رغولے دے، دا د جوله ګر د لاسو د برش یو شنډ نهٔ دے، دا یو مرام، اراده او معنٰي لري اګر چې انځور بې ډوله وي، راځئ چې د دهٔ یو ډېر خونکاره رواج راواخلو چې هغه د چا ښځې تښتېدل، تښتول یا بې واده همغاړیتوب دے. دا لرغونے رواج د پښتون په وینه کښې اوس هم پروت دے، د دې غبرګون ډېر غال پروره وي، کله چې دا د پېرنګي د سست پست اخلاقو نه جوړ قانون سره مخامخ کېږي، پښتون به د خپلې خور اشنا مړ کړي او په دنګه غړۍ او غاوېره سترګو به په هاغه سولۍ خېژي کومه چې پېرنګي د دهٔ دپاره جوړه کړې ده، قانون د کرارې خور او لاپرواه ورور دپاره جوړ کړے شوے دے، پښتانهٔ کمې جونې لري او سپېځلې ولولې، هغه به مېړني هله زېږوي چې په خپله مېړنے وي، د سبا د سړي مور د قبیلې دپاره یوه ستره خزانه ده او ځکه د هغې دومره چټکه څارنه کولے شي، د زیاتې نوږیالنې پرزد دا لرغونے رواج هم د ښېګړې وړ دے، د یو ښهٔ نسل د خورولو دپاره دا مناسب سستم دے خو دا کله د پښتون په ککرۍ وي چې څهٔ وخت هغه ټوپک رااخلي او خپل دښمن وژني؟ نا داسې نهٔ وي، دے دغه وخت پاګل وي، هغه به ارو مرو ډز کوي ځکه چې هغه سره بله لار نشته، کهٔ چرې هغه داسې نهٔ کوي نو د هغهٔ ګاونډیان هغې پورې خاندي، د هغهٔ پلار هغه ته بد ګوري، د هغهٔ خور هغه سره سترګې نهٔ لګوي، د هغهٔ مېرمن مروره وي او د هغهٔ دوستان د هغه نه مخ اړوي، دا اسانه ده چې جج په دې پوهه نهٔ شي ځوک چې د دهٔ په ژبه نهٔ پوهېږي او قانون به یې ځوړند کړي، ځوک چې د هغهٔ د ژوند نه ناخبره دے، هغه خپله دنده د خپلو خلقو دپاره سر ته رسوي، هغه به په رښتیا د خپل نسل سره سیالي کوي کهٔ چرې د هغهٔ زړهٔ او اورمېږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې غوښتنو کښې ماتېږي ولې نۀ، هغه به سولۍ پلو ته ډېر په اوچتو سترګو ځي اګر چې د هغۀ لاس به د هغۀ د ښځې يا لور په وينو سرۀ وي او د هغۀ د خلقو پارولې سترګې به هغه پسې وي څوک چې په اصولو باندې سر ورکوي، پښتانۀ ورته اتل وايي او جج ورته قاتل او زۀ تراوسه پورې په دې پوهه نۀ شوم چې په دې دواړو کښې څوک رښتونے دے.

دې رواج ته چې په خپل سر د کار کولو لاره پرانستے شوه نو معلومه شوه چې دے په بشپړه توګه خپله دنده ترسره کولے شي، په قبائلي سيمو کښې چرته چې پرګنې خلق ژوند کوي څوک به چرې دا وانۀ وري چې چرته مرګ ژوبله يا مړه متېزه وشوه، اګر چې هلته نۀ پوليسان شته او نۀ دا عدالتي سستم، داسې ځکه ده چې د رواج ماتولو تاوان ډېر دروند دے، کۀ چرې ورانکارے په داسې کولو کښې لاس بر شي نو د دې په بدل او تاوان کښې به دوه يا درې جينکۍ د هغۀ د کوره ځي خو هغه به تر ډېره وخته ژوندے پاتې نۀ شي کۀ چرې هغه دا د پلار په کور کښېنوله او يا يې پرېښوده، د جينۍ د ټبر ټول خلق به د هغۀ د وژلو هڅه کوي او د هغۀ خپل ټبر به هغه نۀ بچ کوي، رواج د رواج د ماتونکي دفاع نۀ کوي، هغه به يواځې پاتې کېږي او د دې زيان تاوان به ورکوي، تر دې پورې چې د هغۀ دوستان هم د هغه جنازې له نۀ ورځي، دا هر څۀ غېر انساني دي خو کار کوي، د هر څۀ نه ورتېر دا چې تۀ د سپي د غاړې پړے د لېوۀ دپاره نۀ شې کارولے.

خو دلته يوه بله خبره هم ده او هغه دا چې پښتانۀ نۀ درملتون لري او نۀ درملن او دا خبره هم په ډاګه ده چې ګڼ شمېر ګوانښمنې ناورغتياګانې د سړو او ښځو نه يو بل ته لګي، پښتانۀ د دې څۀ درمل او درملنه نۀ پېژني نو ځکه دومره وېرونکے ګام پورته کوي او هغه بنده له منځه وړي کوم چې د قبيلې د روغتيا دپاره زيانمن وي، دا بدي او ورانکاري ده چې ستاسو دپاره هم د دې سزا د مرګ سزا ده، غوټه يوه ده خو تار بيل بيل دے.

د مرګ، جنګ، وادۀ، مينې او کرکې دپاره د پښتنو په زرګونو رواجونه دي چې دا په شمېر کښې راولې او يا د دې د موخې او مرام انځور جوړوې نو دا کار ډېر ګران دے، دا نۀ ښۀ دي او نۀ بد دي بلکې د دې اړه د وخت، ځائے او چاپېريال سره ده خو د دې په بابله سړے دا وئيلے شي چې دا د يو معيار ساتلو او ژوند تېرولو دپاره يوه هڅه ده چا چې دنيا ته يو ښه جنګيالے ورکړے دے خو ښۀ سپاهي نۀ، د پښتنو ځنې رواجونه د يونانيانو د جنګيالو نه زيات لرغوني دي خو دوي هم ځنې داسې رواجونه او روايات لري چې هغه د سوچ او اوسېدو يو داسې سستم لري چې هغه د سکندر اعظم غوندې ستر مېړنے او بريالے زېږوي، کله چې پښتون ماشوم وي نو مور ورته وايي چې وېرېدونکے مري خو زېبرګے يې نۀ مري نو ځکه هغه دا زده کوي چې کوکاره ايستل ښۀ نۀ دي، هغه ته داسې بې شمېره شيان ښودلے کېږي چې هغه د ژوند نه ډېر خوارۀ وي نو ځکه نۀ دے د خپل مرګ نه وېرېږي او نۀ د بل په وژلو لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیسي، د ے د رنګینه جامو او زړۀ پورې ساز او ستاره ډېره کوي ځکه چې دا د دۀ متې کمزورې کوي او سترګې یخوي، هغه ته دا ښودلې شوي دي چې د بلبلې په ځائے باتور ته ګوره، هغه ته وئیلي کېږي چې خپله مېنه ووژه چې دغسې د هغې د بچو روح خوندي شي، دا د یو سړي نه بل سړي ته او د هغوي بې وکره پوهې ته یو ابدي سپارنه ده.

تاسو او زۀ دغسې هره ورځ کوو، د رایې او اولس واکۍ په دې دور کښې ډېرو جان بېخي لا تعلقه د ے، سپین ږیري، مخور او هوښیاران قانون او رواج د دې دپاره جوړوي چې ځوانان او یاغي خلق په جغ کړي، د یو تاثر پېدا کولو دپاره جوله ګر بې شمېره نښې، رنګونه او برشونه کاروي او دغس یو سازګر د ساز ترلو دپاره د ځومره سورونو نه تېر ووځي، کۀ رنګ د رنګ سره نۀ جوړېږي او ساز د ساز سره نو دا انځور او ساز دواړه عبث دي.

رواج او قانون سړے د ډېرو ښو او بدو نه خوندي ساتي، دا یو معیار ساتي او هاغه څۀ د منځه وړي کوم چې د سړي د وړو نۀ وي، د دۀ رواجونه دومره سودمند دي ځومره چې ستاسو قانون بد د ے، دواړه د باغیانو په ضد دي او دواړه د دې د ودې او پرمختیا دپاره په هاغه ځواکمنو خلقو باندې دارومدار کوي ځوک چې دا ماتولے شي او هم ژوند یې ساتلے شي.

نور بیا

## اختر مو مبارک شه

د رمضان د روژو نیولو د فرض ادا کولو نه پس د دنیا مسلمانان د وړوکي اختر خوشحالۍ کوي، دا خوشحالۍ اګر چې یوه مذهبي فریضه ده ولې دا یوه اولسي، معاشرتي او کلتوري مېله هم ده چې د نړۍ ټول مسلمانان یې د خپلو خپلو روایاتو دودونو او دستورونو په رڼا کښې کوي.
دلته دا خبره د کولو ده چې خوشحالي نمانځل د خوشحاله خلقو کار وي، کوم خلق چې غمژن او مشکلاتو کښې ګېر وي هغوي نۀ خو په خپله خوشحالي کولے شي او نۀ د بل سره په خوشحالۍ کښې ګډون کولے شي.
پښتون قوم نن په مجموعي توګه په ډېر مشکلاتو او مصیبتونو کښې ګېر د ے، کۀ هر کور نۀ وي نو هر کلے، هره محله او د ښارونو هره کوڅه د ترهه ګرۍ په نتیجه کښې وینې وینې ده، په زرګونو میاندې د خپلو بچو په غم کښې غمژنې دي، بې روزګاري عامه ده، د تاجرانو کاروبارونه خراب دي، تنخواه دار خلق د مالي مشکلاتو سره مخ دي، غریبي انتها ته رسېدلې ده، د امروزه استعمال د ځیزونو قیمتونه اسمان سره خبرې کوي، داسې حالاتو کښې به د اختر خوشحالۍ ځوک څنګه وکړي، ولې بیا هم دا یوه مذهبي فریضه ده نو د "پښتون" اداره ټولو مسلمانانو ته په عمومي توګه او پښتنو ته په خصوصي توګه د وړوکي اختر مبارکي ورکوي، اختر مو مبارک شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library




په تېر پسې — پنځمه برخه

## د پښتنو شاعري

کله چې مینه ګویانه شي نو سندره شي
کله چې ساز بې وکره شي نو بنګا شي
کله چې فکر یقیني شي نو توري شي
کله چې توري ګډا محسوسه کړي نو ساز تري جوړ شي
کله چې ساز خوبولے شي نو خاموشي تري جوړه شي

قسمت

د قسمت مثال د رباب د شپېشتو دے
چې دوي د تارونو نه غږ رانیسي او بېل بېل ډوله ژوند، انداز او احساس ورکوي
چې لکه ښیښه د نمر نه سپینه رڼا اخلي
او ډول ډول سورو، رڼاګانو او رنګونو کښې بدلوي
ژوند بې له برخې بې اوازه ساز دے
یکسانیت ابدي دے
پوهه او مینه
د ځېرکتیا مزل لنډ وي
یو څو پله چې واخلي نو په حېرانتیا کښې ورک شي
ښائست د ژوند ثبوت دے
چې د زړۀ سترګې پرې روښانه کېږي
تۀ چرته یې، څنګه یې، پړاؤ دې چرته دے
دلته نو ستا قیصه پېچلې شي
بیا هم کۀ دا یو پېچلې مسئله ده
خو ډېر سوچ سره اخر هواره شي
ځېرکتیا او ثبوت او سوچ او اند
د باور یوه کلکه قلعه جوړوي
د امید پاکې، رڼې او خوږې اوبۀ
د ژوند لاره جوړوي چې له ګلو تېر ووځي
په هر یو څیز کښې توازن، برابري، شمېر دے
جوسه او رنګ او طاقت او مرام دے
د مالک لاس په هر یو څیز کښې روښانه دے
د کائناتو په هره بشره کښې
هر یو څیز په توازن سره ولاړ دے
چې په ډېر غور سره جوړ او پېدا کړے شوے دے
ستوري، نمر او رڼا او هوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر یو یې په لاسو کښې قابو نیولے دے
دا ټول سفر د څېروان په پښو کېدلے شي
د دې ټول چلونه او منطق او هنر او هوښیاري
کـهٔ ستا د خوشحالو او وخت تېري دپاره لوبولے پکار وي
نو د دې دپاره جومات او ممبر دواړه موجود دي

فکر او ښائست، محبوبه او خمار
یو برباده دنیا بیا ودانولے شي
چې عقل پکښې راګېر کړې
د دې نه ورتېر ورکېدل او حېرانتیا ده

ساقي

د ساقي لاس کښې شراب دي
څهٔ د غم څهٔ خندا دي
زهٔ تش جام په لاس ولاړ یم
دا هر څهٔ ستا په رضا دي
کهٔ دا لړ وي او کهٔ ډېر وي
خو ساقي چې په خندا وي
په دې څهٔ د سرببرو
کهٔ خندا وي کهٔ ژړا وي
خو تش لاس درنه لاړ نهٔ شم
اے ساقي! د مېخانې نه

## جادو منتر

مهر زما کرونده ګر ؤ، په رنګ جوسه بې وزله، په سترګو تک شین، تور تېلے او مخ یې لکه د منګول د خلقو خور اور وو، غټې غټې متې او ورغلي سینه، د هغهٔ اندامونه ډېر غټ پټ وو او په زور کښې د سنډا نه کم نهٔ ؤ، هغهٔ به څېزونو ته داسې په غلا غلا کتل چې په ما به ښهٔ نهٔ لګېدل، هغه زمونږ د کلي منلے شوے باغوان او وتلے شوے غل وو. د پښتنو د کلي یو خان د نورو ډېرو کارونو نه سربېره د کلي د امن و امان د ساتلو دنده هم ترسره کوي. د مهر او زما یو بل ببخي نهٔ ؤ خوښ خو د هغهٔ هم له ما غونډې د قانون او رواج سره دښمني وه، هغه به مدام په دې خوشحالېدو چې د دې نه غاړه واړوي او ما به دا هڅه کوله چې دا د دهٔ په واړه او کلکه کپړې کښې ننه باسم. زمونږ رواجونه او لارې کـهٔ هر څومره سخت او خونکاره دي خو دا زمونږ د کلتور د ساتلو دپاره اړین دي، د یو څواکمن اس دپاره کلکه پېړه رسه څکه اړینه ده چې خلق د دهٔ د زور او مستۍ نه په امان وساتلے شي او هغه هم، ما د هغهٔ د مست اس غونډې لېونے زور ماتول غوښتل خو هغه دې ته غاړه نهٔ ایښوده خو ما څهٔ کړے وایې نهٔ خو پنده ګر وم او نهٔ لاربښود، زهٔ خو نو شاعر یم او غواړم چې د اخور په ځائے دې اس پرانستے په منډو او ترپکو ووینم.

خو مهر په توره تبه مړ شو او د دې عذاب نه په امان شو، کله چې زهٔ د هغهٔ لیدو دپاره لاړم نو هغه د ژوند په وروستیو پړاوونو کښې ؤ، د هغهٔ د هاتي غونډې وجود سلامت ؤ خو سترګې یې ډېرې بې دمه شوې وې.

د هغهٔ ټوله کورنۍ ډېره بې ارامه وه، هغوي هاغه ټولو ډاکټرانو باندې ګرځولے وو کوم چې ما ورښودلي وو او د هغوي د خوارۍ پېسې په سرو شنو دوایانو باندې یو مخ خرڅ کېدې، د هغهٔ مور چې به د هغه د هاتي غونډې غټ پټ وجود لړزېدلو ته کتل نو دا چغې به یې وهلې چې په هلک چا تور

(c) ketabton.com: The Digital Library

جادو کړے دے، تۀ ګورې نۀ چې د هغۀ درونـد وجود يې داسې کابو کړے دے چې ړک ترې نۀ شي وهلے او کۀ چرې په هلک کښې څۀ بدني رنځ وې نو پکار ده چې دغې غټو غټو ډاکټرانو معلوم کړے وې او برابر دارو به يې ليکلي وو، هغې خپل زوړ خاوند ته مخ راواړولو او ورته يې ووې.

خو داسې نۀ ده او دا څۀ بل رنځ دے، تور جادو، دا د ښځو خبرې دي، هغۀ خوا کښې ولاړ خپل زوي عثمان ته ووې.

د دۀ خبرو ته غوږ مۀ نيسه. مور يې زوي ته ووې، دے د خان سره ناست وي د هغۀ په شان شوے دے، نۀ مونځ پېژني او نۀ اودس او ټوله ورځ به دا غېبې خبرې کوي، ستا ياد نۀ شي چې په عمر باندې هم داسې بلا شوې وه او هله ښه شو چې د ښاپېرو شاه جي مو ورله راوستو، هغه د خدائے په فضل او خپل حکمت سره تور جادو معلوم کړو او مات يې کړو، د دې خو هسې ډېر وخت وشو خو شاه جي له تراوسه ژوندے دے، تاته ولې ياد نۀ دي؟ تۀ او ستا خان هاغه څۀ وايئ چې څۀ ستاسو خوښ وي خو دې سره ښېګړه کېږي او هغه هره ورځ په کلو کښې سوونه خلق بچ کوي.

د عثمان زړۀ براس واخسته چې هو داسې کول پکار دي، په دې کښې هيڅ څۀ د زيان خبره نشته، انګرېزي داروګان به هم نۀ پرېږدو او شاه صېب ته به هم لاړ ورکړو، تاسو نۀ پوهېږئ چې دا کار عبث دے او دې سره به د مهر په رنځ هيڅ اغېزه ونۀ شي خو ځه ډېره ښه ده تاسو خپله وکړئ، توو نالت ستا د مور په دې ډېره تېره ژبه شه، بد رد وئيلو سره د کوره ووتو او پټو ته لاړو.

عثمان له کوره ووتو او ماښام د شاه صېب سره واپس راغلو، دا هر څۀ زما نه په پټه کېدل ځکه چې زۀ د جادو منتر والوو سخت خلاف وم او دا د هغه دپاره ډېره د خطرې خبره وه چې زما نزدې دې راشي، دا ارمان مې ؤ چې دا شاه صېب يو ځلې زما منګلو ته راشي، دا غټ، غوړ ورمېږ ورله راونيسم او بيا ورته ووايم چې اوس دې جادو ته ووايه چې ايله دې کړي.

جادو منتر، کوډو او تعويزونو والا د انسانانو د سر دښمنان وي، دوي د خلقو په زړونو کښې تيارې اچوي او د هغوي روح ناروغه کوي، دوي د پوهې په چپه دا جهالت خوروي چې دغسې خپل ځان اغېزمن کړي، دوي نۀ يواځې د غريبو خلقو په جېبونو باندې ډاکې اچوي بلکې د هغوي په زړونو هم، د رڼا په نوم يې د تيارو پلۀ ته راکاږي او د خدائے د بندګۍ په ځائے ورته د شېطان لار ښايي، دوي ورته د بې سولۍ او جهالت رنځونه په دماغو کښې اچوي، دا يو ملي ناسور دے، د خپل کلوټې د صحت عامه د مشر په توګه زۀ دا غواړم چې شاه جي سره ووينم.

شاه جي نرے نروچکے سړے ؤ، د شان شوکت او د رنګ جوسې نه د ښې کورنۍ سړے معلومېدو، د هغۀ سپينه ږيره په شان سره رمنځ کړے شوې وه، د هغۀ د سر ويښتۀ اوږده اوږده، تاؤ کړي او غوړ وو، په سر يې د ملانو سپين پټکے اغوستے ؤ او په ځان يې د پاکۍ څادر اچولے ؤ، د بزرګ په ډول غلے غلے، ساهو ساهو ناست ؤ.

څنګه چې شاه جي کلي ته راورسېدو نو ټول کليوال د هغۀ په درناوي کښې پاڅېدل، ځکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په اسب نسب کښې د اولیاؤ نۀ ؤ، هغه نېغ د مهر کوټې ته لاړو چرته چې د هغۀ د کټ نه ښځې ګېر چاپېره ناستې وې، شاه صېب د ښځو په مینځ کښې مدام خوشحاله وي ځکه چې هغوي یې خواخوږې هم وي او سره پوهېږي هم، هغه د مهر سترګو ته وکتل، وریځې یې په بره راکښلې او شونډې یې وخوزولې "اه" هغه ووې، ګېر چاپېره خلقو ساه راښکله، ښځو خپلې سترګې وازې کړې او په طمع دي، شاه صېب د مهر ځواني او غټ پټ وجود ولیدو نو وې وئیل "اه! جینۍ ده" ټول وګورېدل، د مهر مور ډاډمنه او غاوره شوه.

ما تاسو ته نۀ وې چې دا څۀ ښځینه بلا ده چې زما په ښکلي او غټ پټ مهر باندې ناسته ده، ټولو زړو ښځو، ځوانو جینکو ته وکتل چې دې سره هغوي په قار هم شوې او شکمنې هم.

شاه صېب په زمکه کښېناستو، کتاب یې راوښکلو چې د کټکیزو، کړو وړو ښښو او جادو منتر فارمولو نه ډک وو، بیا یې یو سپین کاغذ راواخستو او په هغې باندې یې کټکي جوړ کړل، کرې او څۀ نېغې ښښې یې پرې راښکلې او منتر یې پرې پوک وهه، تر څۀ وخت دپاره هغه ډېر سنجیده ناست ؤ او وریځې یې داسې راښکلې وې چې څۀ کېدو والا دي، څۀ درنګ شېبه وروسته راجګ شو، په مخ یې خندا خوره شوه او د مهر مور پلۀ ته یې مخ راواړولو، ځوک چې ساه راښکلې ولاړه وه.

مور! کېدے شي چې مونږ د دې شېطان په رانیولو کښې لاس برے ومومو، زما د کامیابۍ دپاره دعا کوئ، مور!، بیا یې عثمان ته مخ راوګرځولو او ورته یې ووې: بچے! دا ببلچۍ راواخله او ماپسې راځه، دا ښځې هم دغه ځائے پرېږده چې دعا کوي.

عثمان یواځې د شاه صېب سره بهر ته لاړو او پاتې خلق یې کور کښې پرېښوده، عثمان ته ووئیلے شو چې دا ځائے وکنه، هغۀ په ببلچۍ سره کوپې کچ ځائے وکنستلو او پیر صېب هم ورسره ورسره خاورې لټولې خو څۀ شے په لاس رانۀ غلو، شاه جي ملال شو، پیر صېب عثمان ته یو بل ځائے د کنستو دپاره په ګوته کړو، هغه چې تر ښې شېبې پورې دا بل ځائے وکنستو نو شاه جي د کنستو دپاره یو بل ځائے وښودلو، د هر نوي ځائے د کنستو سره د هغه (عثمان) طمع غوځېږي او سوخت یې سېوا کېږي، شاه جي خفه زهیر د عثمان خواته راغے او هغۀ ته یې د نۀ کنستلو اشاره وکړه، زۀ نۀ پوهېږم چې دا زمونږ لاسو ته ولې نۀ راځي، هیڅ پوهه نۀ شوم، عثمانه! تۀ دا کنستې خاورې لټوه او زۀ یو بل ځائے د کنستلو دپاره ګورم، ببخ ووځه د دې جینۍ، هغه ووې.

عثمان چې څنګه خاورې لټول شروع کړو نو یو ورکوټے ډبے یې ومونده، دومره وړوکے چې په اسانه جېب او موټي کښې ځائېدے شو، صېب!، عثمان چغې کړې، ومې موندو، ډېر زیات خوشحاله شو او په پیر صېب یې باور پوخ شو، هغه د کلي خلقو ته اشاره وکړه او ورونو ته یې غږ ورکړو، هغوي ټولو رامنډې کړې او د عثمان نه چاپېره ودرېدل، شاه جي د ډبي نه سر پورته کړو چې پکښې نوې جوړه شوې ګوډۍ پرته وه، د ډبي نه یې راوباسله او په غور یې ورته وکتل، اه څومره سپېره ښځه ده، هغه ووې، دا په دې ګوډۍ کښې ستنو ته وګوره، هې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدبختـه مهره! هره ستن داسې ده لکـه د مهـر پـه بـدن کښې چړې، ټول ډېر حېرانه شول تر دې پـورې چې د مهر پلار هم ساه راښکله، خبر ښځو ته هم ورسېدو، هغـوي ډېرې زيـاتې خوشـحاله شـوې، پيـر صـېب د هغوي په مخکښې ګوډۍ وسوځوله، د دې نـه پـس پيـر صـېب تـلاوت وکړو او د مهـر پـه مـخ يـې پـوک وهـه، ناسـتو خلقـو تـه يـې دعـا وکـړه او وې وئيـل د جينـۍ نـه مـې بـدل واخسـتو او دا بـه بيـا واپـس نـۀ راځي، د مهر مـور د شـاه جي پـه پښـو پرېوتـه، لاس يـې ورلـه ښـکل کـړل او لـه سـترګو يـې غټـې غټـې اوښکې وبهېدلې.

کله چې شاه جي بهر تـه لاړو نو مـور يـې عثمـان تـه غږ کړو چې راشـه او دا چائے پراټې يوسـه، هغـه بهـر د کليوالـو پـه ميـنځ کښـې ولاړ ؤ او هغـوي تـه يـې پخـې پخـې خبرې کـولې او هغـوي ورتـه درنـاوے وئيلـو چـې عثمـان بيـا ښېرتـه راغلـو نـو مـور ورتـه د خيرنـو روپـو ګېډے ورکړو چې دا يوسه او شاه صېب تـه يـې ورکـړه، په دې روپو خو غوبے کېږي، عثمان مور تـه ووې، ولـې غـوبے څۀ د مهـر نـه لـوئے دے، مـور يـې ځـواب ورکـړو، عثمان روپۍ واخستې او بهر ووتو، پير صېب يـې ډډې تـه کـړو او د خـوارۍ مـزدورۍ پېسـې يـې شـاه جـي تـه ورکـړې، هغـه واخسـتې او عثمـان تـه يـې ووې چـې دا روپۍ به مې نۀ وې اخستې خو د دې نه بغېر جادو منتـر نۀ ماتېږي.

بلـه ورځ سـهار مـړ شـو او د ګـور کفـن، مُـلا او نورو خرڅونو پوره کولو دپاره يـې پـلار زمـا نـه پـور روپۍ واخستې او بيـا د دې پـور ورکولـو دپـاره يـې غوايان خرڅ کړل.

نور بيا...

(c) ketabton.com: The Digital Library




په تېر پسې — شپږمه برخه

## بدل

شېر خان د کلي د يو کمزوري خان زوے ؤ چې د نورو تربورانو سره د کلي د جائېداد شريک مالک وو او د خپلو تربورانو په مخکښې ډېر بې اغېزې، بې مخه او کمزورے خان وو. بل اړخ ته د دهٔ ورونړه او ورېرونه چاخ، وېښ، ګړندي او د ډلې پرې خلق وو. دوي به هر وخت په خپلو کښې سره لاس او ګرېوان وو، دهٔ چې به دا هر څهٔ ليدل او څهٔ به يې نهٔ شو کولے نو د دنيا دارۍ په ځائے يې په ديندارۍ ګوتې پورې کړې، د طمانچې په ځائے تسبې په لاسو کړې او د حجرې په ځائے يې جومات خوښ کړو، لوئے لوئې جامې به يې اغوستې وې او د دې دنيا د ارمانونو په ځائے يې د هاغه جهان د ارمانونو رژولو دپاره په مونځونو او اودسونو ځان بوخت کړے وو، په چا به يې نسوار بندول او چا ته به يې د چيلم نهٔ څښلو تبليغ کولو، نهٔ به يې ډېرې خبرې کولې او نهٔ چا په خندا ليدلے ؤ، تريو تندے او لويه لويه ږيره، لنډه دا چې ټوله سودا يې د هاغه جهان او پوره وه، په دې کښې د دهٔ زوے شېر خان زلمے شو چې د ځوانۍ، ځوانو ولولو، خوبونو او ارمانونو نه ډک وو، دا ښکلے نولس کلن ځوان د بې کچه زور او غرور خاوند وو. شېر خان چې لا ډېر وړوکے ؤ نو هم پلار به يې څهٔ خيال نهٔ ساتلو، دهٔ هغه نه دا خپل کمزورے، مونځګزاره پلار خوښ ؤ او نهٔ يې د مور خبرې ته غوږ کېښودو، ورو ورو يې دواړه شاته کړل، مخه يې واخسته او خبره تر دې راورسېده چې اوس دواړو به د هغه خبره ډېره په غور اورېده.

د هغهٔ پلار هاغه هر څهٔ په هغهٔ کښې وليدل کوم چې خپله په هغه کښې نهٔ ؤ لکه د هغهٔ د خبرو کولو غوڅ او پرېکړې، ونګ او ترنګ، د غرور نه ډکه ځواني، ښائسته مخ او ګډېدونکې پړکېدونکې سترګې، مور به ترېنه هم سترګې نهٔ ايستلې او د دهٔ خبرې به پرې ډېرې خوږې لګېدې، ځکه چې دا د هغهٔ د پلار د مړو مړو بې نمکه خبرو نه ډېرې بدلې، خوږې او اغېزمنه وې، مور پلار دواړه يې ځان ته کښېنول او د واک اختيار واګې يې ترلاسه کړې، د مور پلار نه زيات به هغه د کلي د ځوانانو ډېر خيال ساتلو، هغوي سره به ناست پاست وو، چائې ډوډۍ، ملاسته او ګرځېدل هر څهٔ به يې د هغوي سره وو، هغه په دې پوهېدو چې دې ځوانانو سره تړاؤ او تعلق څهٔ معنٰي لري او په دې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېدو چې دوي زما دپاره څۀ کولے شي او يا زۀ د دوي نه څۀ کار اخستے شم.

د شېر خان ترۀ ډېر زر د خپل ورارۀ په دې ټولو خوبو پوهه شو، دلبر خان د کلي ډېر دبدبې واله، زورور او ناتاري خان وو، هغه په رنګ جوسه ښکلے غټ پټ سړے ؤ خو سترګې يې لکه د هاتي نرۍ نرۍ وې، ډېر مېلمه دوسته وو او دېرې ته يې د خلقو تګ راتګ ډېر زيات وو، په راشه درشه کښې ډېر خنده رويه وو او چې وه به يې ليدې نو داسې په برق برق به يې وخندل چې هر څۀ به يې درنه هېر کړل، د دې مېنه ناک سړي خپل ملاګرے ورور ډېر بدي شو ځکه چې هر وخت به يې دۀ ته د مرګ او هاغه جهان خبرې کولې، هيڅ يو ښۀ سړي باندې دا خبرې هر وخت ښې نۀ لګي او بيا نو په دلبر خان غوندې سړي باندې خو ډېرې بدې لګي. هغه به دا ګڼل چې دا زما ورور خبرې د کينې، بدنيتۍ او تنګ نظرۍ نه ډکې دي او دا ماته ځکه کوي چې غل مې کړي او د ژوند د کاره کسبه مې وباسي، يو ورور د کلي منلے شوے خان او بل ورور منلے شوے مُلا وو. دلبر خان به خپل وخت په ښکارونو، ټنګ ټکور او مستو خوشحالو کښې تېرولو او ورور به يې په مونځونو او دسونو کښې بوخت وو، د نېکۍ او بزرګۍ خبرې به يې کولې خو عمل کم، دا د دواړو د ژوند د خپل خپل ډګر يو مناسبت جوړښت وو او ژوند تر هاغه وخته پورې په قرار سره تېرېدو ر څو چې د دوي تربور او د نزدې کلي خان قربان د عمر قېد سزا تېرولو نه پس خپل کلي ته نۀ ؤ راغلے. قربان خان ډېر بدنام او تورزن جګړه مار سړے وو او د خپلې سرزورۍ او زړورتيا له کبله په ټول کلي کښې مشهور ؤ، د دې سره سره په ورکړه راکړه او تړاو تعلق کښې ډېر ابغ نبغ، ايمان دار او سپين نيته سړے ؤ. قربان خان خپل ترۀ د دلبر خان پلار په يو جګړه کښې په پښه ويشتے ؤ، ترۀ هغه وبخښلو خو پښتو وه، د هغه د پلار د وينې بهېدو بدل په وينه بهولو پاتې وو.

قربان خان چې د شلو کالو جېل تېرولو نه پس کلي ته راغے نو دا خبره يې په ککرۍ کښې وه چې ما خو شل کاله جېل کټ کړو او اوس زۀ بې ګناه يم، ټوپک طمانچه يې اېښودې وو او لکه د کلي د نورو روغو او بې دښمنه خلقو په شانې به ډاډه او لا پروا په پولو پټو ګرځېدو. خلقو سره به ناست پاست وو او خلقو به هم ورسره ډېر د زړۀ له کومې راشه درشه کول، اوږد جېل پکښې ډېر بدلونونه راوستي وو، هاغه پخوانۍ سرزوري او ناتاره خويونه يې بدل شوي وو او خلقو سره يې مينه او وروروَلي سبوا شوې وه، خلقو به دۀ ته د مېړني او اتل په سترګه کتل.

د قربان خان د جېل نه د راتګ سره د دلبر خان په دېره باندې ډېره بده اغېزه وشوه، دلته د خلقو تګ راتګ په کمېدو شو او هلته ګڼه ګوڼه په زياتېدو شوه، دلته غوړ زيړ تالي، ګډان او چرګان او هلته ساده سوده يوستوې ډوډۍ، دلته د خرڅونو، ښکارونو او نوکرانو دبدبه او هلته سادګي، خلوص او برکت. دا هر څۀ په دلبر خان نۀ ځائېدو چې خرڅې دې زۀ کوم او بر برکت دې د قربان خان وي، دې وختونو او حالاتو د دلبر خان بدنيتي او کينه د دښمنۍ تر ځايه ورسوله.

اوس شېر خان را رسېدلے ځوان ؤ چې ځوان يې د بې کچه ولولو، مستۍ او غرور نه ډکه وه، دلبر خان چې به د هغۀ ايره جنو اسماني رنګه سترګو ته وکتل نو وبه بوږنېدو، د شپې چې به څملاستو نو د شېر خان د حجرې له لورې به يې د خندا، مستۍ او ډول سُرنا اوازونه تر غوږو کېدل او دغسې خپل عمر خوړلے او رنځ زپلے ټوخے هم چې د خپلې کمزورۍ او ځوانۍ دواړو انګېرنه به يې ورته کوله، هغه به په خپله طمانچه لاس کېښودو او خپل کشر زوے چې د پنځو زامنو پلار وو، راپه ياد کړو او وه به يې وئيل دلاوره بچيه! زما نه پس به تۀ د دې کلي خان يې او د داسې کولو دپاره دې زۀ خپل سر ولې ور نۀ کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې سهار شو نو دلبر خان خپل ورارهٔ راوغوښتو چې ورسره غرمنۍ وکړي او د ډالۍ په توګه ورله طمانچه ورکړي، د يو پښتون سړي دپاره د دې نه بل څهٔ لوئے نهٔ شي کېدے، دې سره شېر خان ډېر خوشحاله شو، ترهٔ هغه سره ټوقې ټقالې وکړې او ځان سره برابره رتبه يې ورکړه، دې سره د شېر خان په زړهٔ کښې د ترهٔ دپاره ډېره مينه او درناوي وځائېدو ځکه چې داسې مينه هغه سره چرې خپل مونځ ګزاره پلار هم نهٔ وه کړې. ترهٔ په شېر خان او د هغهٔ په ملګرو باندې بې دريغه خرڅونه کول شروع کړل، سهار ماښام غوړې شکرې، چرګان ګډان او ورسره خپلو دښمنانو ته کنځلې او سپکې سپورې، شېر خان يې د کلو په ټولو غټو غټو خانانو وپېژندو، ځان سره به يې تر لرې لرې ښکارونو له بوتلو، د هغهٔ په تېروتنو به يې مُسکے کېدو او د هغهٔ په ټوقو به يې خندل، د زوے شانې سلوک به يې ورسره کولو او خبرې ته به يې لکه د دوست غوندې غوږ کېښودو. د هغهٔ د ډوډۍ او ارام خيال به يې ساتلو، هاغه هر څهٔ دهٔ د هغه دپاره کول چې په څهٔ دے ځان ته رانزدې کړي، دلبر خان په دې کښې برياله شو او شېر خان ورو ورو خپل عمر هېر کړو او ترهٔ سره يې د دوستانو هسې خبرې شروع کړې.

کله چې دلبر خان په دې خبره باندې ډاډه شو چې دا زما ورارهٔ اوس په ما باندې باوري دے نو د خپل نيکهٔ قيصه يې ورته تېره کړه، د هغهٔ د خانۍ، ښهٔ سړيتوب، ښو او نېکو خويونو بېلګې يې ورکړې، په خبرو خبرو کښې يې شېر خان د خپل نيکهٔ په رنګ ورنګولو. دلبر خان پوهه شو چې خبره د شېر خان مغزو ته برابر پرېوته نو ورو غوندې يې ورته ووې چې قربان خان ولې په هغه ډز کړے ؤ، دې خبرې کار وکړو او شېر خان ډېر سوخت شو.

دلبر خان په جامو کښې نهٔ ځائېدو، شېر خان سترګې برندې کړې او وې وئيل، زما خو دا خيال ؤ چې دا ګنې يو تېروتنه وه چې د قربان خان نه شوې وه او نو مونږ به دې ته نور څهٔ وئيل، خپلې پښې اوبو کښې کولو دپاره دا ښه بهانه وه، هاغه وخت دا زمونږ دپاره ډېره مناسب وه، ځکه چې پلار دې بې ځواکه ؤ او زهٔ لا وړوکے وم، شېر خان له ملامتې شونډې چينګې کړې او ترهٔ ته يې مخ راوګرځولو او په تاؤ سره يې ووې: دومره يرندوکے يې چې د خپل بدل واخلې، دلبر خان په خندا شو، د هغهٔ نه يې لاس راتاؤ کړل او ګويانه شو: زهٔ به درسره يم زويه! او د کېږاز کلے به درله په ډالۍ کښې درکوم. زهٔ (شېر خان) به درته وښايم چې زهٔ وېرېدو والا نهٔ يم او په توندۍ سره بهر ته ووتو.

شېر خان ټوله شپه ويښ ؤ او د خپل هلک ملګرې، دکېږاز د کلي د امدن او خپل نيکهٔ په حقله يې سوچونه او اندونه کول او په خوا کښې يې پرته خپله ځوانه ناوې ښځه هېره وه. دا د ژمي يوه درنه، يخه او ورنده شپه وه او قربان خان په خپله حجره کښې د اور په غاړه ناست ؤ، په ايرو کښې يې چځچړے وهلو او خپلو باغوانانو ته يې قيصې کولې، ځواني څهٔ زبردست شے دے، زهٔ چې ځوان وم نو ما به دا ګڼل چې دا ټوله دنيا زما د پښو د لاندې ده، د چا دپاره زما خبره نهٔ منل د ژوند نه لاس وينځل وو، يو ماښام زنګي زما سره خبرې واړولې او ما د هغهٔ د وژلو کلکه اراده وکړه، زهٔ د هغهٔ وژلو پسې لاړم خو وروستو معلومه شوه چې د زنګي په ځائے مې خپل خوږ ترهٔ ويشتے دے، دا چې مې واوربدل نو دم مې وختو ځکه چې دا خو خپل ځان ويشتل ؤ، خو ترهٔ مې زهٔ وبخښلم، څهٔ وخت پس زنګي چا مړ کړو او تور په ما ولګېدو او د هغهٔ ورور په ما د هغهٔ د وژلو تور پورې کړو، جج ما ته شل کاله سزا واورولو ځکه چې ما زنګي ته په ډک بازار کښې د مرګ ګواښ کړے ؤ او خلقو ته معلومه وه چې زهٔ د يوې ژبې سړے يم نو ځکه زهٔ جج تورن کړم او د شلو کالو دپاره يې زندان ته ولېږلم، خو زهٔ بېخي ستومانه نهٔ يم ځکه چې ما څهٔ ورانې ورکې کړې وې د هغې سزا ما د زنګي د وژلو د ګناه په نوم پوره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"خان!" ګلاب ووې "ښه شوه تۀ خو بچ شوې کنه"، قربان خان مُسکے شو او وې وئيل "نۀ، د دې هر څۀ ارزښت بس يو مرګ ادا کولے شي او دا به زۀ په زړۀ وانۀ خلم کۀ چرې داسې وشي..." او په دې کښې دوه مېلمانۀ رادننه شول، هغوي سره ټوپکې وې، قربان خان ورته وکتل او مُسکے شو، "دوستانو تاسو د کوم ځايه راغلئ"، "د پټا کلي نه خان"، ملېمنو ځواب ورکړو، يو ګړندے نظر يې واچولو او يو خواته په ګوټ کښې غلي کښېناستل.

ټول باغوانان وار په وار د حجرې نه لاړل، په اخر کښې قربان خان پاڅېدو، وې خندل او مسافرو ته يې ووې چې "زۀ ستاسو دپاره ډوډۍ راوړم".

څۀ ښه شېبه پسته قربان خان ډوډۍ په لاس بې وېرې د ډېر سپين نيت سره حجرې ته راغے، وې خندل او مسافرو ته يې ووې "د هر چا خپله خپله برخه ده" او په دې کښې يو مسافر ټوپک راپورته کړو او قربان خان يې وويشتو او بيا ورپسې بل مسافر ډز وکړو، لوښي او ډوډۍ تس نس او قربان خان په وينو کښې لت پت يخ پرېوت.

مېلمانۀ په تېښته بهر ته ووتل او په يوه منډه يې ځانونه په کښتو او پولو پټو هاغه ځائے ته ورسول چرته چې شېر خان پټ ناست ؤ، دلته نه په اسونو سوارۀ شول او د پښتو، بدل او غرور د انګېرنې او اندونو سره لاړل.

په بل سبا شېر خان کلي ته راغے چې د ترۀ په جنازه کښې شرکت وکړي، هم په دې دوران کښې دلبر خان نېغ د مړي ورور له لاړو او په سوګند يې ورته ووې چې دا مړے شېر خان کړے دے، دغسې هغه خپل پلان پلې کړو چې يو مړ شو، بل به په سولۍ شي او دغسې زما زوے دلاور ته به د سبا دپاره لار هواره شي.

شېر خان ځوارلس کاله بندي شو، چې کلي ته راغے نو اوس د هغۀ غرور، زړورتيا او زور لا زيات شوي وو.

دلبر خان د هغۀ درونډ هرکلے وکړو او شېر خان هم ډېر په روڼ تندي واخستو ځکه چې هغه خپله غصه او کرکه د ترۀ نه پټ ساتل غوښتل. شېر خان په دې ټول پلان پوره پوره رسېدلے ؤ چې دا هر څۀ زما ترۀ ماسره ولې وکړه او د دې شاته نور څۀ پلانونه پراتۀ دي، څو ورځې وروستو شېر خان ترۀ له ورغے او د هغۀ نه يې د کېزاز د اخستو غوښتنه وکړه ځکه چې هغه قربان ووژلو او د خپلې کورنۍ عزت يې وګټلو. دلبر خان چې دا خبره واورېده نو د غصې نه تک شين شو او غاښونه يې وچيچل، "د څۀ کلے دا خو تا خپل بدل اخستے دے او خپله پښتو دې ګټلې ده، زۀ ولې وچ په وچه جائېداد درکړم او ځان تربورانو ته رااوپرځووم" هغه چورلټ انکار وکړو، شېر خان هغه ته ډېر په بد غزبه سترګو وکتل او وې وئيل "تا خو په ما باندې خپل ترۀ وژلے دے او اوس ته ماته دا زمکه نۀ راکوې" دلبر خان په طمانچه لاس کېښودو او وې وئيل چې "تا خو زما ورور وژلے دے او د دې په بدل کښې زۀ تا ته کلے درکړم، شېره! تۀ خو اوس ډېر هوښيار شوے يې خو زما هم عقل سر ته راغلے دے، زۀ اوس هاغه د ځوانۍ د وخت تېروتنې په دې زوړ عمر نۀ شم کولے، ورارۀ تا ته نۀ ده معلومه چې پښتون خپل سر ورکولو ته غاړه ږدي خو خپله ښځه او جائېداد چاته نۀ ورکوي".

شېر خان چې په دې پوهه شو چې ترۀ اوس ماته د کېزاز کلے نۀ راکوي نو د هغۀ د وژلو بنا يې وکړه، د دلبر خان لاس په طمانچه پاتې شو او وويشتلے شو. شېر خان د مخکښې په شان بيا ياغي شو، په غېره کښې چرته په يو ورکوټي کلي کښې اوسېدو چې د ژوند وختونه يې ډېر خراب او کړاک وو، وخت تېرېدو سره يې زړۀ مات شو، مستي او غرور يې په ختمېدو شو او لکه د قربان خان غوندې عاجزي او ټيکاو پکښې راغلو. اوس د قربان خان زوے رارسېدلے ؤ چې لکه د شېر خان د غرور او مستۍ نه ډک ؤ، کېدے شي چې يو ورځ دواړه د يو بل سره مخامخ شي يا يو بل او يا دواړه سره مړۀ شي.

نور بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library




په تېر پسې ... اوومه برخه

## سیاست

د پښتنو سیاست ستاسو (پېرنګي) غونـدې د واک، دولت، لالچ او حرض نه چاپېره ګرځي، د دهٔ په رګونو او کپړې کښې ستاسو د هغې نه زياتې تېزي او تودې وينې او لا د خونکارۍ نه ډکو اندونو د دهٔ سیاست ډېر ژوندے او چټک کړے دے، سیاست نن هغه څهٔ کوي کوم چې به مذهب پنځهٔ سوه کاله مخکښې کول، دا دواړه ټولوالي يا اداري دهٔ په خپله جوړې کړې دي او په خپلو لاسو يې خپل ځان ښکېل کړے دے، هر سړے به يا واکمن وي او يا د واک لاندې، دربمه څهٔ لاره نشته د دې نه سر بېره چې شاعر وي او يا لېونے.

دا خبره د نمر غوندې روښانه ده چې هر يو پښتون په ځان ستر سکندر دے او غواړي چې دنيا يې ومني، بلـه دا چې تربور د تربور سره، ورور د ورور سره تر دې پورې چې زوے د پلار سره په دوامداره توګه لاس او ګرېوان دي، د پښتنو ټول ياد او تاريخ د دې پېښو نه ډک پروت دے او هم دا سبب دے چې دے يو بريالـه ملت ياد نهٔ شو ځکه چې په هر يو کور کښې سکندر دے، خپل کور سوزولو ته تيار دے خو دې ته غاړه نهٔ ږدي چې خپل ورور بريالے او واکمن ووينې.

د دهٔ غال پروره خوي، کړاک او ناتاره پنځ او ژوره ناپوهي د دهٔ د ژوند او خوځښت سامان دے، کهٔ دے د دهلي واکمن نهٔ شي جوړېدے نو بيا د دهلي نه کرکه کوي او خپلې دوه قلبې زمکې سره مينه کوي، ځکه چې دے په دې کښې خپلواکه او پرانستے وي او ددې نه کرکه کوي چې خپله خپلواکي او ازادي دلاسه ورکړي. دے رښتينے اولسواکه او جمهوريت پسنده دے، دے دا ګڼي چې زهٔ د چا نه کم نهٔ يم تر دې پورې چې خپل ځان د خپل پلار برابر بولي او دومره بې سوله دے چې دا سيالي خپلې ښځې سره هم کوي، د دې دپاره دا په خپل پېغلتوب کښې او دے په زوړ عمر د دې ارزښت ادا کوي.

دے په دې رنځ اخته دے چې په څهٔ چل ول او چالاکي يې نهٔ ده زده او نهٔ ځان او نهٔ خپل اندونه په بشپړه توګه کوي او يا کوتک رااخلي، اغونځې او ارمانونه غټ غټ لري خو زغم نهٔ لري نو لا ځوان وي چې سر يې خوړلے وي، د لوئے زړهٔ خاوند دے خو کپړې يې ورکوټې ده نو ځکه ښهٔ کوربه او زړهٔ پورې دوست دے، ډاکمار دے ځکه چې په خپټه اوږے دے خو غرور يې به کچه دے.

خبرات خوښوي او سر تاوان اخلي، ځکه چې انسان دے څهٔ چينجے نهٔ دے، د دهٔ نه د خپلې ملالې ښځې شلېدلې جامې او د خپلو بچو اوږې سترګې نهٔ هېرېږي، ټوپک رااخلي، بربت تاو کړي او د دوه ګزه جامو او چک ډوډۍ دپاره د مرګ کومې ته ورننوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې چم ګاونډ او ټولنه د هغهٔ او د هغهٔ د بچو بې وزلي ته پام نهٔ کوي نو بیا دے هر څهٔ د پښنو لاندې کوي او چې سیاسي اډانه د کریاب او دریاب په تاد ولاړه وي نو بیا دے د دې نه سرغړونه کوي.

زما د دهٔ دا خوبي ډېره خوښه ده چې غلا کوي خو خبر ته لاس نهٔ نیسي، دے د خدائے او بنده قهر ته به مخ ونیسي خو د بې وزلۍ او غریبۍ شرم زغملو ته تیار نهٔ دے، دے به د برمته شوي بیوپاري وېرېدونکو سترګو ته وکتے شي خو د خپلې اوږې ښځې او لوڅ لغړ بچو او د هغوي نیمګړو ارمانونو ته نهٔ شي کتلے. دا به مې بدې نهٔ شي کهٔ یو سړے د ډاکې په تور په سولۍ کړے شي خو دا مې ډېر د زړهٔ نه بدې شي چې یو سړے کنډول په لاس په لارو کوڅو کښې خېر غواړي. د پښتون غلا خوښه وي خو د ګداګرۍ نه کرکه کوي، دا نو ولې زهٔ د پښتون سره مینه کوم ګو چې کپرۍ یې وره او زړهٔ یې غټ دے، دهٔ ته خپل سر ماتول اسان دي خو ټیټول یې ډېر ګران دي، اګر چې په ننني پرمختللي دور کښې دې کار ډېر رواج موندلے دے.

د سلو کالو په دوره کښې پېرنګیانو دا پښتون په ډېرو بدو بلاو او ورانو اخته کړو، د دهٔ پیر، فقیر، مُلا او خان یې خپل ملګري کړل، تش په نوم دیني بزرګان او پوهان ځوک چې د دې پښتون لارښود او مذهبي مشران وو، په خرڅون واخستل او دوي ته یې د اولس او ملت د بېلارې توب دنده ورپه غاړه کړه، د څهٔ وخت د پاره د پېرنګي دې چل هنر کار وکړو.

چې تاسو ته د پېرنګي سوچه څېره دروښایم د دې د پاره زهٔ تاسو ته د تیراه د سیمې یو قیصه کوم، تیراه د اپریدو ټاټوبے دے چې ډول ډول قیصې یې مشهورې دي.

د قبائلو خلق یو ژوندی، خوندوره، رنګینه او ګرځنده ننداره ده، یو داسې ننداره چې خیالي رنګ نهٔ اخلي او نهٔ یې مصنوعي رڼاګانې روښانه کولے شي، زهٔ تاسو ته د دې خلقو یو رښتیني قیصه تېرول غواړم.

تیراه د سني مسلمانانو یوه خوره وره، بېداره سیمه ده چې شیعه مسلمان پکښې هم ژوند کوي، د مسلمانانو دا ټولګې هم ډېر بېداره او سوچ لرونکي خلق دي، دا دواړه ډلې خلق په وینه او پښت نږه اپریدي دي، دوي د هند او افغانستان ترمنځه اوسي او هم له دې کبله مدام د ځور او کړاونو سره مخامخ وي، کله چې امان الله خان خپله د پښتو شمله نېغه کړه او د پښتون هسې لاره یې خپله کړه نو دا په پېرنګي ښه ونهٔ لګېده او امان الله خان له د انګلستان په سفر ؤ چې پېرنګیانو ورته د سرو او سپینو زرو په زور افغانستان کښې اور ولګولو.

د سنیانو نه شیعه ګان زیات بېداره وو او ملا یې وترله چې د امان الله خان مرسته وکړي او مېدان ته راووځي او هم دغسې سني مُلایانو خپلې سینې وډبولې چې دا سړے به راته نور واک نهٔ کوي، دلته دا خبره د یادولو وړ ده چې خان د لوئے زړهٔ او پراخه سینې خاوند ؤ او د چا په مذهبي چارو کښې یې ګوتې نهٔ وهلې.

رېرور او د پټکو خاوندان راپاځېدل چې د ځوان باچا د غېر اسلامي او بې پښتو کړنو مخنیوے وکړي، په درنګ کښې اړے ګړے جوړ شو او د باچا سره سره د شیعه ګانو خرونج ته هم ښه زور ورکړے شو چې دا خلق د حضرت عثمان او د پېغمبر زړهٔ پورې زوم وژونکي دي، تیراه سره خوا کښې په سمه سیمه کښې د حضرت عثمان ملاترې اوسېدل او دا د شیعه ګانو دلاسه د حضرت عثمان د شهادت خبره تر هغوي هم ورسولے شوه. مُلایانو دا فتوٰي ورکړه چې د شیعه ګانو وژنه کار خېر دے او چا چې شیعه مړ کړو نو هغه به نېغ جنت ته ځي، هر چا ټوپک راپه غاړه کړو او د شیعه ګانو په ښکار پسې پره شول.

د شیعه ګانو د وژلو نه سربېره د هغوي مالونه، کښتونه او باغونه هم چور تالان کړے شول او دا چې د سوونو کالو د چنار زړې ونې هم ووهلے شوې، ټوله دره یې په ډانډار واړوله، دا خلق دومره وزپلے شول چې د باچا څهٔ ملاتړ وکړے شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیعه ګان د خپلې پوهې او سول په بدل کښې د خپلو وینو او اوښکو سره تر غاړه وتل او باچا خپل واک او تخت دلاسه ورکړل، د خپلې خپلواکۍ د ساتلو په لار کښې امان الله خان باچاهي دلاسه ورکړه او شیعه ګانو خپل مالونه، کښتونه، باغونه، سرونه او بچي د لاسه ورکړل ځکه چې د باچا مرستیال او ملګري وو.

دا زهٔ په تاسو پرېږدم چې د دې چړاو، لوټمار او الغاؤ تلغاؤ ګټې چاته ورسېدې؟.

د قبائلو په زرهاؤ قیصو کښې دا یوه قیصه ده چې ټکي په ټکي رښتیا ده، کېدے شي چې ځنې سنیانو ته دا نهٔ وي معلومه چې دوي چا راپارولي وو خو هر شیعه ته دا جوته ده چې په مونږ ګزار چا کړے دے. ځنې پښتانهٔ د دې جوګه نهٔ کړے شول چې امان الله خان بچ کړي خو په دې پوهېدل چې دوي هغه ولې بچ نهٔ کړے شو.

د برټش انډیا د سیاسي چارو د اداري ټول زور په دې باندې ؤ چې د خېبر باتورانو ته د ټپوس او کارغهٔ خویونه ورکړي، واړهٔ او نامعلومه خلق یې په چل هنر او لالچ راپورته کړل او مهم خلق یې ترېنه جوړ کړل، داسې ډوډیمار او چاپلوس چې مهم هم وي او اغېزمن هم، د قبائلو اغېزمنه خلق یا خانان دي او یا مُلایان، یو د دې جهان ډنډه مار او بل د هغه جهان.

د هند د سیاسي چارو چلونکو د دغو مُلایانو روزنه څهٔ په داسې ډول وکړه او داسې پاکې ارتې برتې خلقې یې ورته په غاړه کړې چې پکښې سوچه د خدائے خلیفه برېښېدو خو په رښتیا معنو کښې یې هڅه دا وه چې دا نور خلق هم د ځان غوندې د پېرنګي غلامان کړي او د خپلواکۍ او غرور ولوله پکښې وچکوي. د دې ساده ساده خلقو د خدائے سره بې ساري مینه، د ورور نه د ورور په کرکه او خړونج واړولے شوه. دا د خدائے نه وېرېدونکي خلق او د دوي سپېڅلې ګروهه یې داسې وکاروله چې دوي یې په بډو رشوتونو او دروغو راواړول.

پېرنګے بریالے شو، پښتون په خپلو کښې د یو بل په وینو بهېولو کښې داسې بوخت شو چې بل هر کار کول ترېنه هېر شو، د پېرنګي تخت خوندي شو او د پښتنو د ژوند رڼا په تتبدو شوه.

په دې وختونو کښې ناڅاپه یو اوښتون راغے، په دغې بدلون باندې د ځان پوهولو دپاره دا ارزښتمنه ده چې مونږه د قبائلي سیمې نه بهر ته په سمه کښې چې د این ډبلیو ایف پي په نوم سره یادېږي، لاړ شو، دلته د پېښور درې شتمنې سیمې په یو وړوکي کلي کښې یو خدائي خدمتګار وزېږېدو.

هغه د دنګې لوړې، ښکلې او شین سترګې مور او د غټ پټ زوړ خان پنځم اولاد ؤ، د هغه د پلار چاسره هیڅ دښمني تربګني نهٔ وه او دا د یو پښتون سړي دپاره ډېره هېښنده خبره ده ځکه چې هغه خپل ټول دښمنان بخښلي وو. بهرام خان رښتینے سړے ؤ او په دروغو وئیلو نهٔ پوهېدو، د هغهٔ پېرنګیان خوښ ؤ خو د یو پېرنګي نوم ورته هم یاد نهٔ وو، د سورلۍ مړنے نهٔ ؤ خو اسونه یې خوښ وو، هغه د خپلې تېروتنې منونکے هم ؤ او ملامته هم، هغه بې کچه رښتونے ؤ نو ځکه خلقو ورسره مینه کوله.

بهرام خان خوشحاله ژوند تېرولو او د ژوند د وروستیو وختونو پورې د کرکیلې کسب کښې بوخت ؤ، دوه لونه یې وادهٔ کړې وې او مشر زوے یې پوځ کښې د لندن کالج نه کپټن برتې شوے ؤ، دوېم زوے یې په پوځ کښې د کمېسون اختو نه منکر شو او د زمیدارۍ او دین په کارونو کښې بوخت شو. بهرام خان د زوے په دې کړنو او خویونو نهٔ پوهېدو نو لاس یې ترېنه واخستو، په مور ډېر ګران ؤ ځکه چې د مور پلار کشر اولاد ؤ، د خوي بوي نه قرار او ساهو ؤ او په ناسته پاسته او اغوستنه کښې پاک سپېځلے ؤ، په ونه دنګ لوړ ؤ، په پلار ډېر مئین ؤ او د څهٔ کار کولو دپاره به ورسره تللے دلیل ؤ. پلار به د هغهٔ هر څهٔ بخښل تر دې پورې چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوځ کښې د کمپسون نۀ اخستو خبره يې هم په زړۀ وانۀ خسته، په هره خبره کښې به مور د هغۀ په شا ولاړه وه او دا چې مور او زوے دواړه د پلار نه زيات د يو بل په خبره باندې پوهېدل او چې څۀ به هغې وئيل نو هغه به کېدل، پلار هغه ته د اوسېدو دپاره کلے ورکړو او دا اختيار يې ورکړو چې د خپلې خوښې وادۀ وکړي، د هغه دا خيال ؤ چې داسې کولو سره به هغه دا خپل هېښنده خويونه او اندونه پرېږدي.

هغه د يو خانداني پېغلې سره وادۀ وکړو چې په رنګ جوسه ښکلې او په خوي خصلت بې ساري وه، د خپلې خوښې د وادۀ کولو سره هم د هغه په اندونو، خيالونو او سرګردانه ګرځېدو کښې څۀ بدلون رانۀ غلو، په خپلو دواړو زامنو ډېر مئين وو او د انغري په غاړه چې به کښېناستو نو په لوبو لوبو کښې به په سوچونو او اندونو کښې ورک شو. د هغه ښځه د دې اندونو نه خبره وه او کرکه به يې ترېنه کوله، د هرې مېرمن غوندې هغې هم غوښتل چې د خاوند هر څۀ د خپلې ولقې لاندې راولي، دا ښځه د خپل سړي د دې پلانونو نه اګاه وه او په دې پوهېده چې د دې په سبب به زۀ د خپل سړي نه هېره شم او هغه د ماشومانو سره د انغري په غاړه لوبې به هم پاتې نۀ شي.

خو هغه ډېره زر مړه شوه او هغه د ډېرې اوږدې چوپتيا او وېرې ترخې ماتېدل يې ونۀ ليدل چې د څۀ انګېره به هغې ته کېده، د مرګ په وخت د هغې عمر له پنځۀ ويشت کاله نۀ ؤ او د وادۀ په سور شال کښې خاورو ته وسپارلے شوه، هغې دوه ماشومان هلکان شاته پرېښودل چې د بې اثره کېدو وېره يې په سترګو کښې غړېده، دوي خو مرګ وليدو خو په دې پوهه نۀ شول چې مرګ څۀ ته وايي.

د لام په وړومبو ورځو کښې برتانوي حکومت د پرمختګ تش په نوم ژمنې کړې وې خو په اخر کښې يې د ولګې وبا راوړه، په دې وختونو کښې د عبدالغفار خان بې ارامي لا نوره زياته شوه، هغه خپل بچي خپلې بوډۍ مور ته ورپه غاړه کړل او د خپلو غمونو ډېولو دپاره يې د خلقو په کار خدمت کښې ځان بوخت کړو.

هغه د خپل ژوند دپاره کسب ومونډو، د خلقو سره د مينې کولو کسب، هغه په دې خبره ورسېدو چې د پښتنو يوون، زده کړه، ښه پورنه او تنظيم ډېر ارزښتمن دے، د دې دپاره يې پښتنو سره خبرې اترې شروع کړې چې دغسې د دوي پام د دوي د کړاونو، بدو ورځو، وروستو پاتې کېدو او جهالت پلو ته راواوړي. هغه دا هڅه وکړه چې پښتانۀ سوچ کولو ته ښکېل کړي او په دې کښې بريالے شو، په اوله کښې هغه د هشنغر خانان په يو جمات کښې راغونډ کړل او ځان يې د هغوي باچا کړو، د دې غونډې خبر چې حکومت ته ورسېدو نو د پېرنګي واک ځائے استازو خپل خود د لاسه ورکړو. اسسټنټ کمشنر د پوځ او توپو سره راغے او د کلي نه يې ګېره تاو کړه، ټول کلے يې به وسلې کړو او په کلي باندې پنځۀ شپېتۀ زره روپۍ جرمانه ولګوله، کمشنر صيب خلقو ته په ماته ګوډه پښتو کښې وينا وکړه او هغوي يې د پېرنګي د زور او دبدبې نه خبر کړل، د پنځۀ شپېتو زرو روپو په بدل کښې يې د کلي شپېتۀ مشران د ځان سره بوتلل او څرګندونه يې وکړه چې دا مشران به تر هاغه وخت پورې بندي وي چې تر څو پورې تاسو دا تاوان او جرمانه نۀ وي ادا کړې. په دې مشرانو کښې يو بهرام خان هم ؤ چې دغه وخت د هغه عمر پنځۀ اويا کاله او د پېرنګيانو وتلے مرستيال ؤ. دا نور کسان هم ډېر قرار او هوسا خلق وو، په وړومبي ځل دوي ته د خپلې غلامۍ انګېرنه وشوه، پښتانۀ وو نو د خبرې څۀ سپيناوے يې ونۀ کړو خو دومره سوخت اخستي وو چې څۀ کولو ته يې هم چمتو وو، په چيچلو غاښو يې پېرنګي ته ووې چې تۀ مونږ ياغي بولې نو ياغي صحيح او نو اوس به مونږه او تاسو د يو بل سره جوړ شو، تۀ هم د بدو نه بد کوه او مونږ به هم ووينې چې څۀ کوو.

نور بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library




په تېر پسې — اخري برخه

عبدالغفار خان په لړ څهٔ کښې بچ شو، دې پېښې هغه ته د باچا خان خطاب ورکړو چې پښتانهٔ یې هم په دې نوم سره پېژني، وېرندویه خو کېدے نهٔ شو بلکې دې نوم سره هغه نور زړور شو، دې هغه له بې ساري ملگري او نهٔ ماتېدونکې ولوله ورکړه، تر دې پورې چې زوړ بهرام خان هم پېرنگیانو ته بد رد وئیل شروع کړل او خپل زوي سره یې مینه پېدا شوه چې دے څنگه د پېرنگیانو په سر سور دے. باچا خان یو مدرسه پرانسته او د پښتنو د خورونې دپاره د اصلاح الافاغنه په نوم سازمان جوړ کړو. د دې سازمان مقصد بېخي غېر سیاسي او خالص ټولنیز اصلاح کونکے وو، بیا هم هغه بندي کړے شو او د درېو کالو سخته سزا ورکړے شوه، کله چې هغهٔ واکمنو ته ووې چې زهٔ خو خلقو ته درس ورکوم او درس ورکول خو څهٔ جرم نهٔ دے البته دا خو د سرکار سره مدد کول دي نو سرکار ورته څواب ورکړو چې هو، دا خبره سمه ده خو دا ژمنه به څوک کوي چې دا سازمان به سبا سرکار ته څهٔ ستونزه نهٔ پېدا کوي؟ تاسو په ما باندې باور وکړئ چې داسې به نهٔ کېږي. څواب راغے چې نهٔ، تهٔ بخښنه وغواړه او دا ژمنه وکړه چې بیا به داسې نهٔ کوم نو دا دے ازاد شوې، دا ژمنه چې زهٔ دې د خپلو خلقو سره مینه پرېږدم او د هغوي د خدمت کولو نه لاس واخلم؟ باچا خان په ډېر سوخت سره پوښتنه وکړه، ما خو په مشن سکول کښې زده کړه کړې وه او هلته چې مې څهٔ ستاسو خبر ښېگړې په حقله اورېدلي وو هغه خو یو تش خیال ؤ، پېرنگي زیاته کړه او باچا خان ته یې په ډانگ پوهنه ژبه ووې چې دا خدمت نهٔ دے دا بغاوت دے او دغسې باچا خان ته د درېو کالو د سخت زندان سزا ورکړے شوله. د دې په بدل کښې مخې کال ته هاغه ټولو چارواکو ته څوک چې د دې هر څهٔ برخه وال وو، لوړې چوکۍ او اسانتیاگانې ورکړے شوې.

> ما د باچا خان لږه اوږده خاکه راښکله څکه چې هغه د پښتنو د سیاست رښتونې څېره ده ولې چې پښتانهٔ هغه پېژني او هغه پښتانهٔ پېژني او تهٔ په دې دواړو کښې یو هم نهٔ شې پېژندے تر څو پورې چې تهٔ په خپله پښتون نهٔ یې.

په دې وخت کښې چې باچا خان په جېل کښې ؤ سکولونه یو مخې غوړېدل، خلق چټک او منظم وو، د درېو کالو جېل هغه ښه زېلے ؤ خو د هغهٔ اراده لکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسپني هسې کلکه وه، د جبل ځوړ او کړاو د هغهٔ په سترګو کښې غرور، کلک توغل او یخوبې پیدا کړے ؤ. هغهٔ د خپلو بې موره زامنو نه غېږ تاو کړه او د ځان سره یې راجوخت کړل. بهرام خان ډېر ښهٔ چرت کښې ؤ، حجرې ته د راتلونکو مېلمنو داورمدار یې کولو او ورسره به یې پېرنګیانو ته ځو سپکې سپورې هم کولې. د باچا خان د لیدو او هرکلي دپاره په زرګونو خلق رامات وو، ځوانانو به هغهٔ ته په ارماني سترګو کتل او پېغلو به د هغهٔ د درناوي سندرې وئیلې، پښتنو ته په لاسو یو غټ باغي راغلے ؤ، دې جنګیالي ملت اخر خپل لارښود وموندو او دا مهرباني پېرنګي په خپله د ځان سره وکړه.

پېرنګي ډېر سوخت وو چې ګوره دا خړ پړ پښتانهٔ ځومره د دې سړي نه اغېزمن دي، د دې نه مخکښې چې د دې پښتنو خود سر ته راولو، دا غټ پټ بودل سړے له مینځه لرې کول پکار دي. باچا خان دومره دنګ لوړ او زړور سړے ؤ چې نیولو او سزا ورکولو ته ډېر وېریا وو ځکه چې نهٔ خو هغه پټېدے شو او نهٔ یې داسې کول غوښتل. هغهٔ به هر ځهٔ په ډاګه کول او پېرنګي ته به یې وئیل کهٔ تاسو ځهٔ کوئ نو وکړئ، هغه یې بیا بندي کړو، په دې امید سره چې سر په کرښه کېږدي، کوم غال او تشدد وو چې په هغه ونهٔ شو، د خړه توب زندان، لاسو پښو ته درنې ځولنې، لوږه تنده، سپږن او ښیرن قېد او د هر ځهٔ نه ورتېر سپکاوے، بد رد، لتې او سوکونه. هغهٔ به هره ورځ شل سېره جوار مېچن کول خو چرې یې کریان نهٔ ؤ کړے، هغه یو منلے شوے بندي ؤ، چرې یې د خپل ځان سره د ناروا سلوک شکایت نهٔ دے کړے کهٔ د هغهٔ سابه او خورا د خوراک قابل هم نهٔ وو، هغهٔ به جېلرانو ته هم درناوے ورکولو او دغسې به په دښمنانو باندې هم مهربانه ؤ، هغهٔ هر ځهٔ هر چاته وبخښل او د زغم او صبر لمن یې چرې له ګوتو ورنهٔ کړه، خپل غم یې په خندا او درد په ټوقو اړولو، دا وار چې له جېله راغلو نو سیاسي مبارزه یې پېل کړه او د سرحد دپاره یې د بشپړه اصلاحاتو غوښتنه وکړه.

په سلو کښې نوي پښتانهٔ ناخوانده وو، هغوي ته لیکلې پاڼه داسې بربښې لکه سپینه بې ټکو پاڼه نو باچا خان به کلي په کلي ګرځېدو او خلقو سره به یې جرګې مرکې کولې، د ملګرو ډله به ورسره هم کلي په کلي ګرځېده، د هغهٔ ملګرو ته دا شکایت وو چې دا سپین رنګه جامې ژر خیرے نیسي او د دې ځهٔ هوارے پکار دے، په دوي کښې یو تن خپلې جامې د څرمنې پخولو کډې ته یوړې او هلته یې په رنګ کښې ډوبې کړې، دې سره د جامو رنګ سوربخن شو او دغسې دا د دوي جامه شوه چې دوي به په دغو سرو جامو کښې ګرځېدل نو د خلقو پام به یې ځانته رااړولو، د پټو کسبګرو به یوې ودرولې او د سرو جامو د سړو په تماشه به شول، خوا له به راغلل، لیدل کتل به وشول او رام به شول. باچا خان د خپلو مزدورانو او خواري کښو دپاره دا سور رنګ غوره کړو چې ورته به یې خدائي خدمتګار وئیلو چې موخه او مرام یې خپلواکي او خدمت وو.

ما د باچا خان لږه اوږده خاکه راښکله ځکه چې هغه د پښتنو د سیاست رښتونې څېره ده ولې چې پښتانهٔ هغه پېژني او هغه پښتانهٔ پېژني او تهٔ په دې دواړو کښې یو هم نهٔ شې پېژندے تر څو پورې چې تهٔ په خپله پښتون نهٔ یې.

باچا خان اوس زوړ سړے دے چې سپینه ږیره او اوږده اوږده ښکلې لاسونه یې دي، کله چې تهٔ هغه ووینې نو ورپسې د هغه سترګو ته هم وګوره نو تهٔ به د پښتون په سیاست پوهه شې او داسې او دومره به پوهه شې چې داسې دې زهٔ په زر پړکونو لیکلو نهٔ شم پوهولے. سپېځلتوب، پاکوالے او سړیتوب لکه د نمر د بخمې او د سپوږمۍ د رڼا ګویانه کېدے نهٔ شي، مینه او لورنه ځوک په لیکلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې ښکېل کولے نۀ شي او نۀ د پېرنګي په جېل خانه کښې. باچا خان ته د خپل ژوند د پېښو او تجربو نه معلومه شوه چې مينه په يو درنګ کښې څومره ودانې کولے شي نو دومره بربادۍ. اېټم بم په سل کاله کښې نۀ شي کولے، د مينې ځواک ستر ځواک دے. د زړورتيا بنسټ ستا رښتينتوب دے او ستا خوب داسې تابانه او دومره زړۀ پورې پکار دے چې ستا د خپل ژوند او د خپلو بچو د سترګو د رڼا نه زيات خوږ وي، دا هاغه درس دے کوم چې باچا خان پښتنو ته ښودلے دے.

## پايله

ما خپله قيصه پائے ته راورسوله او هيله مند يم چې دا به په تاسو خوږه لګېدلي وي څنګه چې ما د دې د وئيلو نه مزه واخسته دغسې به تاسو د دې د اورېدلو نه خوند اخستے وي، لوستل د اورېدلو يو مخکښې تللے ډول دے او دغسې ليکل د وينا يو پېچلې جوسه ده.

ما دا پوره هڅه وکړه چې تاسو د خپلو خلقو نه خبر کړم خو دا هم نۀ وايم چې په دې کښې به ما څۀ پلوي نۀ وي کړې، ځکه چې زۀ انسان يم او انسانان دغسې کوي، خيال د نيت ځرګندونه ده، هڅونه د نيت نه خپلواکه وي او هم دغسې د سوچ نه هم دپاسه وي، کرکه او کينه د سړي دپاره لکه د مور شودې وي، څومره ژر چې دې دا ومنله دومره ښه ده، زۀ چې کله د کورټ لوئے جج سنجيده مخ او سر پيچک ته وګورم او د هغۀ بې پرې پرېکړو ته نو خندا ورپورې راشي، نا! زۀ به چرې داسې ونۀ کړم، زۀ پښتون يم او ايمانداري زما د پښتو برخه ده، زۀ به په ډاګه دا ووايم چې زۀ د خپلو خلقو پلوي يم او کۀ چرې ما داسې ونۀ کړے شول نو د ځانه به کرکه وکړم.

ما د پښتنو جوړ کړے شوے انځور ستاسو مخې ته کېښودو، بل به مې څۀ درکول، اګر چې پښتانۀ خونکار، ظالمان، جاهلان، لوڅ او نهر دي خو بيا هم زۀ پرې مئين يم، هغه مړے د نورمال او تاد د لاندې کوي او دا پروا نۀ کوي کۀ دې تا څوک مړے وايي، پېدائشي جمهوريت خوښه دي، هغه وايي چې پښتانۀ د باراني غنمو کښت دے چې ټول په يو وخت او يوه ورځ سر وهي او ټول يو شان دي.

زمونږ د سرخپوش په خوځښت کښې چې به د جرنېل ستوري د يو کوتاريا جوله پښتون په اوږه کېښودل شول نو لا به اېغ نېغ شو، ملامته کېدو به نۀ، د پښتون لاس سخا ښيرن، خيچن او کلک وي خو بيا هم باچا له يې ورکوي، پخکړے يې ساګ پېتي وي خو بلنه به باچا له ورکوي، هغه خپل مېلمه ته وايي چې تالي ته مۀ ګوره زما تندي ته وګوره.

خو پښتنو سره زما د مئينتوب د ټولو نه غټه وجه دا ده چې دے کله د جنګ او مرګ دپاره د کوره ووځي نو مخ لاس به ووينځي، ږيره به غوړه کړي، په څنو به خوشبوي ولګوي او د ټولو نه ښکلې جامې به واغوندي، دا ماشوم غواړي چې د حورو مخې ته سمبال لاړ شي، هغه دا سوچ کوي چې خدائے ناولي مخونه نۀ خوښوي ځکه چې هغه خپله پاک او سپېځلے دے.

هغه وايي اې خدايه!
تۀ مهربانه او لورن يې
د چا دپاره چې زۀ خندا کوم
سندرې وايم او مرم
هغه وايي بې سوله
ژاړي، کارونو کښې بوخت وي
خو جنګ کوونکي جنت ته ځي

په دې کښې هيڅ شک نشته چې زۀ د دۀ پلوي يم او اوس هيله لرم چې تاسو به هم ددۀ ملګرتيا وکړئ.

پائے

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**